د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو
د تالیف لوی ریاست

# ریاضي

## دریم ټولګی






$\frac{۱}{۴}$

۶ −۱ < ۶ +۱

۹ + ۲ >۱۰

۶ + ۵ = ۱۱

د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ . ش.

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري.
په بازار کې یې اخیستنه او خرڅونه په کلکه منع
ده. له سرغړونکو سره قانوني چلن کېږي.
Moe.curriculum@gmail.com



## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی　　دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې　　هر بچی یې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی　　د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو　　د ترکمنو د تاجکو

ورسره عرب، ګوجر دي　　پامیریان، نورستانیان

براهوي دي، قزلباش دي　　هم ایماق، هم پشه یان

دا هیواد به تل ځلیږي　　لکه لمر پر شنه آسمان

په سینه کې د آسیا به　　لکه زړه وي جاویدان

نوم د حق مو دی رهبر　　وایو الله اکبر وایو الله اکبر

# لومړی فصل

# په عد دونو کې دارقامو مقامي قیمت

## لومړی لوست: د رقمونو مقامي قیمت

هدف:زده کوونکي باید د یوه رقم مقامي قیمت په اړوندو مرتبو کې تشخیص کړای شي .

ګرانو زده کوونکو تاسو مخکې د یو یزو، لسیزو او سلیزو مرتبې پېژندلې دي دا چې د عددونو په لیکلو کې د مرتبو پېژندل مهم دي یو ځلې بیا د هغو یادونه کوو.

**پام وکړئ:**



١٠٠ ١٠ ١



١٠٠ ٤٠ ٦

پورته شکل د ١٤٦ عدد راښيي په داسې حال کې چې ٦ دانې غنم د ٦ یو یز، او٤ د غنمو ١٠ دانه یي وږي د ٤٠ عدد او د غنمو د لسو وږو یوه ګیډۍ د ١٠٠ عدد راښيي چې په جدول کې په لاندې توګه ښودل کیږي.

| سلیز | لسیز | یو یز |
|---|---|---|
| ١ | ٤ | ٦ |

## مشق او تمرین

۱. لاندې شکلونه په نظر کې ونیسئ. د هغو له مخې لاندې تش ځایونه ډک کړئ.





____ يويز ____ لسيز او ____ سليز، ټوله ____ کيږي .

لاس ته راغلی عدد څو رقمي دی؟ دغه رقمونه د لاندې جدول په اړوند مرتبو کې ولیکئ.

| يو يز | لسيز | سليز |
|---|---|---|
| | | |

۲. لاندې شکلونه په نظر کې ونیسئ. د جدول تش ځایونه په مناسبو عددونو سره ډک کړئ.




۳ لسيز او ۲ سليز ____ کيږي دا عدد په لاندې جدول کې ولیکئ.

| يو يز | لسيز | سليز |
|---|---|---|
| | | |

**۳. د لاندې شکلونو له مخې تش ځایونه په خپلو کتابچو کې ډك کړئ.**





**____ يو يز ____ لسيز ____ سليز ټول ____ کيږي دا عدد په لاندې جدول کې وښیاست.**

| يو يز | لسيز | سليز |
|---|---|---|
| | | |




۱- د لاندې مثال سره سم تش ځایونه په خپلو کتابچو کې ډک کړئ.




مثال: ۸ یو یز ۹ لسیز ۳ سلیز [۳۹۸] کیږي.

۶ یو یز ۵ لسیز ۹ سلیز [ ] کیږي.

۹ یو یز ۹ لسیز ۸ سلیز [ ] کیږي.

۲- د لاندې مثال څخه په کاراخستنې سره تش ځایونه په خپلو کتابچو کې ډک کړئ.




| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱- مثال: | ۷۸۲ | = | ۲ | یویز | ۸ | لسیز | ۷ | سلیز |
| ۲- مثال: | ۸۹ | = | ۹ | یویز | ۸ | لسیز | ۰ | سلیز |
| | ۷۰ | = | | یویز | | لسیز | | سلیز |
| | ۲۰۶ | = | | یویز | | لسیز | | سلیز |
| | ۷۶۰ | = | | یویز | | لسیز | | سلیز |
| | ۹۵۲ | = | | یویز | | لسیز | | سلیز |

۳- لاندې هر یو عدد په خپلو کتابچو کې په رقمونو سره ولیکئ.




- دوه اویا
- پنځه سوه څلوراتیا
- دوه سوه پنځه دیرش
- شپږ پنځوس
- اووه سوه څلور څلویښت
- پنځه سوه دري

۴- لاندې عددونه ولولئ او هريو په خپلو کتابچو کې په تورو ولیکئ.




۷۴٦ ..................................

٦۴۲ ..................................

۷۰۷ ..................................

۹۰۲ ..................................

۴۳۰ ..................................

۱۲۳ ..................................

۵- د ۴ او ٦ په عددونو سره څو دوه رقمي عددونه لیکلای شئ؟

٦- د ۲۰۰ او ۲۵۰ عددونو په منځ کې ټول هغه عددونه چې د ۵ رقم ولري ولیکئ.

۷- فهیم ۳۳ افغانۍ لري د ښي لوري د ۳ رقم ته او هم د کیڼ لوري د ۳ رقم ته ځیر شئ.

الف: وواياست چې دا دواړه رقمونه یو له بله سره څه توپیر لري؟ .....................................................

ب: آيا د دواړو رقمونو ارزښت يوشی دی؟ ......................

ج: د نوموړي عدد ښي او کیڼ لوري رقمونه په عملي توګه د لرګوټو په واسطه وښیاست؟

د: د نوموړي عدد رقمونه په چوټ کې وښیاست.






هـ: د ۱۰۰ عدد په چوټ کې وښیاست.

۸- لاندې عددونه په نظر کې ونیسئ.

الف _ د ٦٦ په عدد کې څو یویز او څو لسیز موجود دي؟.........................................

ب- د اووه نوي په عدد کې څو یویز او څو لسیز موجود دي؟ .........................................

ج _ د دوه رقمي تر ټولو په کوچني عدد کې څو یویز او څو لسیز موجود دي ؟ ..............................

د _ د دوه رقمي تر ټولو په لوی عدد کې څو یویز او څو لسیز موجود دي.

## فعالیت

دلاندې شکلونو یا کارتونو په ډول د ۳،۲،۱ عددونه په نظر کې ونیسئ څو څو درې رقمي عددونه لیکلای شئ، او هم د هغو تر ټولو د کوچنی او تر ټولو د لویو عددونو نومونه واخلئ.










---------  ---------  ---------

---------  ---------  ---------

تر ټولو کوچنی عدد ------

تر ټولو لوی عدد ------

ښاغلی ښووونکی دې د زده کوونکو څخه درې تنه د ټولګي مخې ته ودروي. او هریوه ته دې د ۱، ۲، ۳ یو یو کارت ورکړي. او له هغو څخه دې وغواړي چې خپل اړوند کارت خپلو ټولګیوالوته وښيي. بیا دې ښاغلی ښووونکی له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړي. تاسو د کارتونو په واسطه کوم درې رقمي عدد لیکلای شئ. په دوهم وار دې د زده کوونکو ځایونه بدل کړي، او لاس ته راغلی عدد دې په جدول کې ولیکي په همدې ډول دې د ځایونو بدلولوته ادامه ورکړي او د هر بدلون عدد دې تر هغه وخت پوري په جدول کې ولیکي چې لاس ته راغلی عدد تکراري رانشي. او په پای کې دې وشمیري چې څو درې رقمي عددونه د ۱، ۲، ۳ رقمونو څخه لاس ته راغلي دي او یو له بله سره دې پرتله کړي. د مقامي قیمت یا مقامي ارزښت په نظر کې نیولو سره دې ترتیب کړي.

کورنی دنده

د ۴، ۵، ۶ رقمونو څخه څو درې رقمي عددونه لاس ته راځي په خپلو کتابچو کې يي ولیکئ او هغه له کوچني څخه لوی ته ترتیب کړئ.

# فعالیت

۱- د مثال په توګه دواړه مساوي عددونه په خپلو کتابچو کې د یو غشي په واسطه یو له بله سره ونښلوئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۱۳یودانه‌يي او ۲ لسیز | ۴یودانه‌يي او ۷ لسیز | ۲ یودانه‌يي او ۵ لسیز |
| ۱۴ یودانه‌يي او ۲ لسیز | ۱۲ یودانه‌يي او ۴ | ۳ یودانه‌يي او ۷ لسیز |

---

۲- د حل شوي مثال څخه په کار اخیستنې سره د ښي لوري جدولونه د کین لوري له عددونو څخه داسې بشپړ کړئ چې هر رقم يې په خپله مرتبه کې راشي.

مثال:

۳۱۲ →

| یویز | لسیز | سلیز |
|---|---|---|
| ۲ | ۱ | ۳ |

۱۷۳ →

| یویز | لسیز | سلیز |
|---|---|---|
| | | |

۲۱۳ →

| یویز | لسیز | سلیز |
|---|---|---|
| | | |

د لاندې مثال په ډول د پوښتنو ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

مثال: د ۳۵ د عدد ارقام په کومو مرتبوکې قرار لري؟ (۵ د یویزو په مرتبه کې او ۳د لسیزو په مرتبه کې).

- د ۷٦ د عدد ارقام په کومو مرتبو کې قرار لري؟..........................او ............
- د ٦۴۵ د عدد ارقام په کومو مرتبو کې قرار لري؟

په خپله خوښه يو عدد وليکئ چې په هغه کې يـو يز، لـسيز وجود ولري او وواياست چې دا عدد څو رقمي دی؟

- په شمېرلو کې د ۹ له عدد څخه وروسته کوم عدد راځي؟
- په شمېرلو کې د ۹۹ له عدد څخه وروسته کوم عدد راځي؟
- په شمېرلو کې د ۹۹۹ له عدد څخه مخکې کوم عدد راځي؟
- د ۹۹۹ عدد څو رقمي دی؟

کورنۍ دنده

د ۴۰۰ او ۵۲۰ په منځ کې هغه عددونه وليکئ چې د يـو يز و رقمونه يې ۵ وي؟



# اټکل او تخمین

**هدف**: زده کوونکي وکړای شي مخکې تر شمېرلو د تخمین په واسطه د شیانو مقدار په تقریبي توګه پیدا کړي. وروسته له دقیق شمېرلو قیمت یې ولیکي.

مونږ ځني وخت مقدارونه تخمینوو او بیا د شمیرلو په واسطه دقیقه اندازه د یو یزو او لسیزو په شکل ټاکو. او ګورو چې زمونږ تخمین په کومه اندازه حقیقت ته نژدې دی. په حقیقت کې تخمین کول یو هوښیارانه سوچ یا حدس دی چې د ذهن د انکشاف لپاره مهم ګڼل کیږي. عموماً په کورنیو کې د کوچنیانو د ساعت تیرۍ د پاره ډیره ښه ده. مثلاً که چیرې په کورنۍ کې زردآلو وخوړل شي او د هغو مندکې (زړي) سره یو ځای کړي او خپلو کوچنیانو ته ووایې. څاڅو دانې خوړلې دي؟ څا زیاتې خوړلې دي؟ څا لږې خوړلې دي؟ هر یو د خپل ذهن سره سم یو عدد وایې په پای کې دقیق شمیرل کیږي. او لیدل کیږي چې د کوم یوه تخمین حقیقت ته نژدی دی؟



## مشق او تمرین

ښاغلی ښوونکی دې یو نا معلوم مقدار د لوبیا دانې، یا د زرد آلو مندکې، د هندوانې یا خټکی او یا کدو زړې ټولګي ته راوړي او د ټولګي مخې ته دې کښیږدي، ټولو زده کوونکو ته دې وښیي. او هغه دې په یوه پاکټ یا کڅوړه کې واچوي. بیا دې زده کوونکي په ګروپونو باندې وویشي. داسې دې ورته ووايي.

١. هرګروپ دې داسې جدول رسم کړي چې په هغه کې دوه ستون د تخمین او دقیقو شمیرلو وي.

٢. د ګروپ هریو تن دې د پاکټ یا کڅوړې د شي مقدار په اټکلی توګه وټاکي.

٣. دهر ګروپ جدول دې د ټولګي مخې ته ځوړند شي.

۴. له هر ګروپ څخه دې یو، یو تن راشي د پاکټ یا کڅوړې د ننه مواد دې داسې وشمیري چې لومړی دې، لس، لس جلا کړي چې څو لسه او څو یو دانه یې دي.

۵. د شمیر حقیقي اندازه دې د ګروپونو د تخمین له جدول سره پرتله کړي.

۶. کوم ګروپ چې د مسابقې ګټونکی دی هغه ګروپ دې تشویق شي او خپل کار دې نورو زده کوونکو ته توضیح کړي.

# دويم فصل

## له (۱۰۰۰) څخه تر (۱۰۰۰۰) پورې د عددونو لوستل او ليکل

### دريم لوست: له ۱۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰ پورې د عددونو لوستل او ليکل

هدف: زده کوونکي وکړای شي عددونه له ۱۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰ پورې ولولي وشميري طبقې او اړوند مرتبې يې وپېژني او وليکي.

تا سو له ۱ څخه تر ۹۹۹ پورې ټول عددونه په دويم ټولګي کې پيژندلي او لوستلي دي چې ۹۹۹ درې مرتبې لري دا درې مرتبې لومړی طبقه (ديويز وطبقه) بلل کيږي. که چيرې په ۹۹۹ باندې د يوه عدد ور زيات کړو د ۱۰۰۰ عدد لاس ته راځي چې دا عدد څلور رقمونه لري چې څلورم رقم يې د (۱) عدد او په دويمې طبقې پورې اړه لري تا سو په لاندې جدول کې دوه طبقې ليدلای شئ چې هره طبقه يې درې مرتبې د (يويز، لسيز او سليز) لري.

| دوهمه طبقه ( زريزو طبقه ) | | | لومړی طبقه ( د يويزو طبقه) | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د سل زريزو مرتبه | د لس زريزو مرتبه | د زريزو مرتبه | د سليزو مرتبه | د لسيزو مرتبه | د يويزو مرتبه | عدد |
| | | | | ۹ | ۹ | ۹۹ |
| | | | ۱ | ۰ | ۰ | ۱۰۰ |
| | | | ۹ | ۹ | ۹ | ۹۹۹ |
| | | ۱ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱۰۰۰ |
| | | ۲ | ۰ | ۰ | ۰ | ۲۰۰۰ |
| | | . . . . | . . . . | . . . . | . . . . | . . . . |
| | | ۹ | ۰ | ۰ | ۰ | ۹۰۰۰ |

که چیري اوس په دوهمه طبقه کې د یو زریزو مرتبې ته پاملرنه وکړئ لیدل کیږي چې د (۱) عدد په همدې طبقه کې دی او د لومړی طبقې تولې مرتبې یې صفر دي چې (۱۰۰۰) یو زر لوستل کیږي. که چیرې د (۱) د عدد په ځای د ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸ او ۹ عددونه ولیکو د ۲۰۰۰، ۳۰۰۰، ۴۰۰۰، ۵۰۰۰، ۶۰۰۰، ۷۰۰۰، ۸۰۰۰ او ۹۰۰۰ عددونه حاصلیږي.

تاسو پوهیږئ چې د پورته عددونو صفرونه په لومړی طبقې پوري اړه لري که چیرې د لومړی طبقې د صفرونو په ځای د ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸ او ۹ مختلف عددونه ولیکل شي په دې صورت کې د ۲۰۰۱، ۲۰۱۱، ۳۰۶۳، ۴۰۲۰، ۸۲۵۱، ۹۹۹۹ ... عددونه په لاس راځي.




## فعالیت

لاندې کارتونو ته پاملرنه وکړې:




د یویزو مرتبه    د لسیزو مرتبه    د سلیزو مرتبه    د یوزریزو مرتبه

الف: هغه عدد چې د پورتنیو ۴ کارتونو څخه په لاس راځي ولیکئ.

ب: نوموړی عدد څو رقمونه لري؟

ج: نوموړی عدد ولولئ او په تورو باندې یې ولیکئ.

د: د صفر کارت په کومه مرتبه کې موقعیت لري؟ د لوستلو په وخت کې تلفظ کیږي او که نه؟






**پوښتنې:**

۱- د ۱۲۷۴، ۳۰۰۲ او ۲۰۵٦ عددونه ولولئ او په تورو يې وليکئ د نومونړو عددونو رقمونه په خپلو کتابچو کې د لاندې جدول په واسطه په اړوند مرتبو کې وليکئ.

| زريز | سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|---|
| | | | |

۲- د يوزرو دوه، او وه زرو پنځه اتيا، او نه زرو اته سوه درې څلويښت عددونه په رقم سره وليکئ او په جدول کې وښياست چې د هر يوه په مرتبه کې کوم رقم راغلی دی؟

| زريز | سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|---|
| | | | |

۳- کله چې تا سو، نهه زره درې واياست په يوه جدول کې وښياست چې د ۹ رقم په کومه طبقه او مرتبه کې او همدارنګه د ۳ رقم په کومه طبقه او مرتبه کې ځای لري او هغه مرتبې چې نه لوستل کيږي کومې دي او په هغو کې کوم رقم قرار لري؟

| زريز | سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|---|
| | | | |

۴- د پنځه زرو او وه عدد وليکئ. په جدول کې يې وښياست او رقمونه يې په اړوندو مرتبو کې وليکئ.

| زريز | سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|---|
| | | | |

**کورنۍ دنده**

۱- هر يو زده کوونکی دې د مرتبو يو جدول رسم او د ۲۰۰۷، ۲۰۱٦ او ۱۸۸۷ عددونو ارقام دې په اړوند مرتبو کې وليکي.
۲- د پنځه زرو اته شپيته عدد د جدول په اړوند مرتبو کې وليکي.

۵- اته زره نهه سوه نهه ویشت په عددي بڼه او رقمونه يې په لاندې جدول کې په اړوندو مرتبو کې ولیکئ.

| زرریز | سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|---|
| | | | |

٦- څلور زره یو سلو شپږ په ارقامو سره ولیکئ او رقمونه يې په لاندې جدول کې په اړوندو مرتبو کې ولیکئ.

| زرریز | سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|---|
| | | | |

٧- اته زره اووه سوه شپږ نوي په ارقامو سره ولیکئ او رقمونه يې د جدول په اړوندو مرتبو کې ولیکئ.

| زرریز | سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|---|
| | | | |

٨- نهه زره نوي د جدول په اړوند مرتبو کې ولیکئ.

| زرریز | سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|---|
| | | | |

٩- نهه زره نهه سوه نهه نوي د جدول په اړوند مرتبو کې ولیکئ او هم د ٨ ، او ٩ ګڼو پوښتنو د مرتبو په منځ کې توپیر په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

| زرریز | سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|---|
| | | | |

کورنی دنده

څرنګه چې د ٩٩ په عدد باندې د (١) عدد ورزیات شو د ١٠٠ عدد په لاس راغلی که چیرې د ٩٩٩ په عدد باندې د (١) عدد زیات شي کوم عدد لاس ته راځي او څو رقمي دی؟ د جدول په اړوند مرتبو کې ولیکی.

# خلورم لوست

## د عددونو پیژندنه له ۱۰۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰۰ پورې

**هدف:** زده کوونکي وکړای شي تر ۱۰۰۰۰۰ پورې عددونه ولولي او د طبقو په اړوند مرتبو کې دې ولیکي.

تا سو د ۹۹۹۹ عدد پیژندلی دی که چېرې اوس په دې عـدد باندې د (۱) عدد زیات کړو د ۱۰۰۰۰ په لاس راځـي چـې دا عـدد یـو پنځـه رقمي عدد دی اونومـوړی عـدد د (۱)رقـم د دویمـې طبقـې د لـس زریزو په مرتبه کې قرار لري. که چیرې اوس د لس زریزو په مرتبـه کې د (۱) د عدد په ځـای د ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸ او ۹ عـددونـه ولیکـو د ۲۰۰۰۰، ۳۰۰۰۰، ۴۰۰۰۰، ۰۰۰، ۹۰۰۰۰ عددونه په لاس راځي.

| لومړی طبقه (دیویزو طبقه) | | | دوهمه طبقه (د زریزو طبقه ) | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د یویزو مرتبه | د لسیزو مرتبه | د سلیزو مرتبه | د زریزو مرتبه | د لس زریزو مرتبه | د سل زریزو مرتبه |
| ۹ | ۹ | | | | |
| ۰ | ۰ | ۱ | | | |
| ۹ | ۹ | ۹ | | | |
| ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | | |
| ۹ | ۹ | ۹ | ۹ | | |
| ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | |
| ۹ | ۹ | ۹ | ۹ | ۹ | |
| ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ |

او س که چیرې د ۹۰۰۰۰ د لومړی طبقې د یویزو په مرتبـه کـې د ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸ او ۹ عـددونــــه ولیکــو د ۹۰۰۰۱، ۹۰۰۰۲، ۹۰۰۰۳، ۰۰۰، ۹۰۰۰۹ عـددونه په لاس راځي. همدارنګه که چیـرې د ۹۰۰۰۹ عدد د لسیزو، سلیزو او زریزو پـه مرتبـو کـې د ۱، ۲، ۳، ۰۰۰۰۰۰، ۹ رقمونـه ولیکــو د ۹۰۷۶۸، ۹۶۰۲۵، ۹۷۵۴۲،.... ۹۹۹۹۹ عــدد پــه لاس راځي که چیرې د ۹۹۹۹۹ په عدد باندې د (۱) عـدد ورزیـات شـي د ۱۰۰۰۰۰ عدد په لاس راځي تاسو کولای شئ ځني عددونه د لاندې جدول په اړوند طبقو او مرتبو کې وګورئ.

**کورنی دنده**

هر یو زده کوونکی دې د طبقـو یـو جـدول رسـم کـړي د ۱۲۰۵، ۶۰۰۰۳، ۱۲۸۰۱ عددونه دې د اړوندو طبقو په مرتبو کې وښیي.

## مشق او تمرین

**لاندې تش ځایونه په مناسبو رقمونو سره د حل شوي مثال په ډول په خپلو کتابچو کې ډک کړئ.**

مثال: شپږ او یا زره دوه سوه

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۷ | ۲ | ۲ | ۰ | ۰ |

پوښتنې:

۱) شل زره

۲) اوولس زره شپږ سوه پنځه څلوېښت

۳) دوه دېرش زره

۴) اته ویشت زره پنځه دېرش

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۱ | | ۲ | | ۵ |
| ۳ | ۲ | | | |
| ۲ | | | | ۵ |

---

**لاندې عددونه لکه حل شوی مثال په حروفو باندې ولیکئ.**

مثال: ۳۸۹۳۰ – اته دېرش زره نهه سوه دېرش

۱- ۶۵۰۰۴ ..............................

۲- ۷۳۶۴۲ ..............................

۳- ۱۰۰۰۰۰ ............................

۴- ۸۷۰۰۷ ..............................

۵- ۹۹۹۹۹ ..............................

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د طبقو او مرتبو جدول په خپلو کتابچو کې رسم کړي بیا دې لاندې عددونه د جدول په اړوندو مرتبو کې ولیکي او هم دې په تورو ولیکي.

۳۴۰۰۳، ۱۰۰۰۰۰، ۹۵۹۹۹



## پوښتنې:

۱- څو عددونه ولیکئ چې د هغو د سلیزو په مرتبه کې یې ۹ او د لسیزو په مرتبه کې یې ۳ وي.

۲- یو عدد ولیکئ چې د سلیزو په مرتبه کې یې ۴ او د یوزریزو په مرتبه کې یې ۲ وي.

۳- یو عدد ولیکئ چې د یویزو په مرتبه کې یې ۴ او د لس زریزو په مرتبه کې یې ۷ وي.

۴- داسې یو عدد ولیکئ چې د لس زریزو په مرتبه کې یې ۴ او د سلیزو په مرتبه کې یې ٦ وي.

۵- یو عدد ولیکئ چې د لس زریزو په مرتبه کې یې ۹ او وواياست چې دا عدد څو رقمونه لري؟

۶- که چیرې د سلو زرو په مرتبه کې د (۱) رقم قرار ولري د لومړۍ او دویمې طبقې په نورو مرتبو کې صفر لیکل شوی وي کوم عدد لاس ته راځي؟

**کورنۍ دنده**

په خپلو کتابچو کې د طبقو یو جدول رسم او د ۱٦۰۷۰۴ عدد د لاندې جدول په اړوندو مرتبو کې ولیکئ.

| سل زریز | لس زریز | زریز | سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |

# دریم فصل
# جمع

## پنځم لوست: د جمعې په عملیې کې د لس دا نه ییزو ګروپونو جوړول

هدف: زده کوونکي وکړای شي د جمعې عملیه د لس دانه ییزو د ګروپونو په جوړولو سره سرته ورسوي.

۱- مثال: لاندې شکلونو او د هغوی اړوند عملیوته پاملرنه وکړئ.



۹+۷ =۱۰+۶ =۱۶

۲- مثال



۸+۶=۱۰+۴=۱۴

## فعالیت

حل شوي مثال په نظر کې ونیسئ او تش ځایونه یې ډک کړئ.



□+□=□+□=□



**پوښتنې:**

۱- مثال ته په پاملرنې سره د جمعې په عملیې کې لاندې تش ځایونه په خپلو کتابچو کې ډک کړئ.

۱- مثال ۱:  ۱۳ = ۳ + ۱۰ = ۷ + ۲

[ ] = [ ] + ۱۰ = ۲ + ۵ ، [ ] = [ ] + ۱۰ = ۹ + ۷

[ ] = [ ] + ۱۰ = ۲ + ۹ ، [ ] = [ ] + ۱۰ = ۷ + ۸

[ ] = [ ] + ۱۰ = ۹ + ۸

---

۲- د لاندې مثال په ډول د لس جمع یو عدد په جوړولو سره لاندې تش ځایونه په خپلو کتابچو کې ډک کړئ.

۲- مثال ۲:  ۱۴ = ۴ + ۱۰ = ۲ + ۸

۱۳ = [ ] + [ ] = ۴ + ۹ ، ۱۵ = [ ] + [ ] = ۸ + ۷

۱۲ = [ ] + [ ] = ۹ + ۳ ، ۱۲ = [ ] + [ ] = ۷ + ۹

۱۳ = [ ] + [ ] = ۲ + ۷

۳- د جمعې په عملیه کې لاندې تش ځایونه ډک کړئ.

[ ] = ۴ + [ ] = ۸ + ۶

[ ] = [ ] + ۱۰ = ۷ + ۳

[ ] = ۰ + [ ] = ۶ + ۴

کورنی دنده

څو عددونه پیدا کولای شی چې د ۴ سره جمع شي او د جمعې حاصل یې ۱۰ شي.

## شپږم لوست

# د څو رقمي عددونو جمع چې د جمعې حاصل يې له ۱۰۰۰۰۰ زيات نشي

هدف: زده کوونکي وکړای شي د څو رقمي عددونو د جمعې حاصل په لاس راوړي.
زده کوونکي پوه شي چې په هره مرتبه کې يوازې يو رقم ليکلای شو.

**پاملرنه وکړئ:** تاسو د حاصل لرونکو عددونو جمع په کوچنيو عددونو کې په دوهم ټولګي کې ولوستل او زده مو کړل، د جمعې دا عمليه په لويو عددونو کې داسې په نظر کې ونيسئ.

مثال:

| زريز | سليز | لسيز | يويز |
| --- | --- | --- | --- |
| ① | ① | ① | |
| ۲ | ۵ | ۳ | ۴ |
| + ۶ | ۷ | ۶ | ۷ |
| ۹ | ① ۳ | ① ۰ | ① ۱ |

```
  ①①  ①
  ۲ ۵ ۳ ۴
+ ۶ ۷ ۶ ۷
---------
  ۹ ۳ ۰ ۱
```




مخامخ پوښتنې حل کړئ:

```
  ٦۴۳۵        ۵۸۴۳        ۷۳۲۱
+ ۱۵۸٦      + ٦۰۸۰      + ۲٦۰۹
======      ======      ======
```

کورنی دنده

لاندې پوښتنې حل کړئ:

```
  ۲۷۰۳        ۱۰۸۷        ۳۴۰۵٦
+ ۹٦۱۹      +  ۹۹۴      + ٦۴۹٦۷
======      ======      =======
```




۱- د حاصل څخه په کار اخستنې سره لاندې د جمعې پوښتنې حل کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۱۴۴۳ | ۱۰۰۴۷ | ۳۴۵۶ |
| + ۱۸۵۸ | + ۹۹۹۳ | + ۴۰۹۰۷ |
| □ | □ | □ |

۲- پوښتنې خپلو کتابچو ته نقل او په تشو ځایونو کې مناسب عددونه ولیکئ.

| | | |
|---|---|---|
| □ □ □ | (۱) (۱) □ ۷ ۳ | (۱) ۸ ۸ ۶ |
| + ۴ ۷ ۸ | + ۳ ۴ □ | + □ ۰ □ |
| ۴ ۷ ۸ | ۵ ۲ ۲ | ۱۳ ۹ ۴ |

| | | |
|---|---|---|
| (۱) (۱) ۶ ۷ ۸ | (۱) ۸ ۷ ۶ | (۱) ۷ □ □ ۶ |
| + ۳ ۲ □ | + □ □ □ | + ۴ ۳ □ |
| ۱۰ ۰ ۱ | ۱۱ ۰ ۹ | ۷ ۷ ۹ ۰ |

۳- احمد ۲۸ افغانۍ لرې پلار یې د سودا را نیولو لپاره ۷۰۶ افغانۍ ورکړې اوس له احمد سره څو افغانۍ شته؟

۴- په یوه بڼ کې د بادامو ۱۸۰۰ نیالګي او د زردالو ۵۵۰ نیالګي شته، معلوم یې کړئ چې په بڼ کې ټول څو نیالګي دي؟

۵- کریمه له ذبیح څخه ۱۸۰ افغانۍ زیاتې لري. که چیرې ذبیح ۳۸۰ افغانۍ ولري د کریمې پیسې معلومې کړئ.

۶- د اختر په ورځ پلار خپل زوی کریم ته ۵ افغانۍ او نورو ۴ زامنو هر یوه ته یې ۵، ۵ افغانۍ ورکړې معلوم یې کړئ چې پلار یې څو افغانۍ زامنو ته ورکړې دي؟

**کورنی دنده**

د پنځمې پوښتنې په ډول یوه عبارتي پوښتنه ترتیب او حل کړئ.

# اووم لوست

## د هغو عددونو جمع چې له دوو جزو څخه زياتې اجزاوې ولري

هدف: زده کوونکي وکړای شي د جمعې عمليه چې له دوو جزو څخه زياتې اجزاوې ولري سرته ورسوي.

مثالونه:

| | | |
|---|---|---|
| | ٢ | ٥ |
| د جمعې لومړی جزء | | |
| | ٢ | ٥ |
| د جمعې دويم جزء | ١ | ٢ |
| د جمعې دريم جزء | + ١ | ٠ |
| د جمعې حاصل | ٤ | ٧ |

| | | |
|---|---|---|
| ① | ① | |
| ١ | ٧ | ٦ |
| ٢ | ٠ | ٠ |
| ٥ | ٢ | ٠ |
| + | ٦ | ٤ |
| ٩ | ٦ | ٠ |

| | | |
|---|---|---|
| ① | ① | |
| ١ | ٤ | ٨ |
| ٣ | ٦ | ٥ |
| + ١ | ٠ | ٠ |
| ٥ | ١ | ٣ |

## فعاليت

١- جمع يې کړئ.

الف:

| |
|---|
| ٣٤٧ |
| ١٠٠ |
| ١٢٣ |
| + ١٤٧ |
| |

ب:

| |
|---|
| ١٠١ |
| ٢٣٤ |
| ٥٦ |
| + ١٢ |
| |

ج:

| |
|---|
| ٣٤٧ |
| ١١٢ |
| + ٦٢٣ |
| |

٢- تول هغه عددونه وليکئ چې د جمعې حاصل يې ٩ شي په داسې حال کې چې اجزاوې يې تکرار نشي.

٣- تول هغه عددونه وليکئ چې د جمعې حاصل يې ١٢ وي او مساوي اجزاوې ولري.

کورنۍ دنده

جمع يې کړئ:

| |
|---|
| ٧٠٠٢ |
| ١٨٧٠ |
| ٩٤٠٢ |
| + ٨ |
| |

| |
|---|
| ٣٥ |
| ٧٤٣ |
| ٣٧١ |
| + ١٠٠ |
| |



**پوښتنې:**

۱- یوه بنوال د ۳۶۲۰۰ افغانیو منې د ۱۲۰۰۰ افغانیو ناك او د ۶۱۰۰ افغانیو شفتالو وپلورل معلوم کړئ چې نوموړی بنوال ټولې څو افغانۍ په لاس راوړې دي؟

۲- یوه هټۍ وال په لومړی ورځ د ۱۲۰۰ افغانیو په دوهمه ورځ د ۱۲۰ افغانیو په دریمه ورځ د ۱۸۰۰ افغانیو او په څلورمه ورځ د ۲۰۲۰۰ افغانیو اجناس پلورلي دي معلوم کړئ چې هټۍوال په څلورو ورځو کې ټولې څو افغانۍ په لاس راوړې دي؟

۳- لاندې پوښتنې خپلو کتابچو ته نقل او تش ځایونه یې په مناسبو عددونو سره ډك کړئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | ١ | | ١ | ١ | ١ |
| | □ | ٣ | □ | ٧ | ٣ |
| + | ٦ | □ | ٤ | ٣ | ٨ |
| | ٧ | ١ | ١ | ١ | ١ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ١ | ١ | ١ | | ١ | |
| | | □ | ٩ | □ | ٥ | ٥ |
| + | | ٧ | ٠ | ٩ | □ | ٥ |
| | ١ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | □ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | ○ | ○ | ○ | | |
| | ٧ | ٨ | ٨ | ٤ | ٢ |
| + | | ٩ | ٨ | ٨ | ٧ |
| | □ | □ | □ | □ | □ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | ١ | ١ | ١ | |
| | ١ | ٠ | ٦ | □ | ٨ |
| + | □ | □ | □ | ٧ | □ |
| | ١ | ٢ | ٣ | ٥ | ٦ |

**کورنۍ دنده**

د ټوکر اوبدلو یوې فابریکې په لومړۍ ورځ ۴۳۰ متره ټوکر، په دوهمه ورځ ۷۴۰ متره ټوکر او په دریمه ورځ ۱۰۲۰ متره ټوکر تولید کړی دی معلوم یې کړئ چې په درې واړو ورځو کې یې ټوله څو متره ټوکر او بدلی دی.

# اتم لوست

## د جمعې د عمليې ازمويل

هدف: زده کوونکي وکړای شي د جمعې د عمليې په صحيح والي خپل ځان ډاډ من کړي.








| | |
|---|---|
| | ٣ ٢ ٢ |
| + | ١ ٠ ٧ ٦ |
| | ١ ٣ ٩ ٨ |

شاکر، فهيم ته وويل: کولای شی چې د ٣٢٢ عدد د ١٠٧۶ له عدد سره جمع کړې؟

فهيم وويل هو، داسې يې جمع کوم:

شاکر وويل: څرنګه پوهيږې چې پوښتنه دې صحيح حل کړې ده او که غلطه؟

| | |
|---|---|
| | ١ ٠ ٧ ٦ |
| + | ٣ ٢ ٢ |
| | ١ ٣ ٩ ٨ |

فهيم وويل: ددې کار د پاره د جمعې د اجزاوو ځايونه بدلوو او د جمعې عمليه سرته رسوو.

څرنګه چې په دواړو حالتونو کې عين عدد لاس ته راغلی نو ځواب صحيح دی.

کورنی دنده

لاندې پوښتنې لومړی په کتابچو کې جمع او بيا يې وآزمويئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | ٢٩٧٦۴ | | ١٠٨٦٠ | | ٢٣۴۵ |
| + | ۵٠٢٣۵ | + | ٢٨٠١۵ | + | ١٠٢٣ |
| | | | | | |

**مشق او تمرين**

١. لاندې عددونه لومړی جمع او بیا یې امتحان کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ٣ ٧ ٦ ۴ | ٧ ٦ ۵ ٠ | ١ ٧ ٨ ٩ ١ |
| ١ ۵ ٣ ٢ ١ + | ٦ ٣ ۴ ٢ ۵ + | ٧ ١ ٨ ٦ ۴ + |

٢. د ٧٢٠٣۵ او ۶٠١٠ عددونه یو له بله سره جمع او امتحان کړئ.

٣. د ٩٠٩٩ او ٩٩٩٩ عددونه یو له بل سره جمع او امتحـان یـې کړئ.

۴. په یوه بڼ کې ٨٠٠٠٠ د مڼو نیالګي وه، ١۶٧۴۵ نیالګي یـې نـور کیښودل شول اوس په بڼ کې څو نیالګي شته. په دوه ډوله یې ځواب په لاس راوړئ.

**کورنۍ دنده**

لاندې پوښتنې لومړی په خپلو کتابچو کې حل او بیایې وآزموئ.

| | |
|---|---|
| ١ ۶ ۴ ٢ | ٧ ٠ ٠ ۴ ٢ |
| ٨ ۶ ٠ ٧ + | ٢ ٠ ٨ ٠ ٠ + |

# څلورم فصل

# د تفریق عملیه

## نهم لوست

### له یو بل څخه د دوه رقمي، درې رقمي او څلور رقمي عددونو تفریق

هدف: زده کوونکي وکړای شي چې په دوه رقمي، در ي رقمي او څلور رقمي عددونو کې د تفریق عملیه سرته ورسوي.

پاملرنه وکړئ:

احمد ۹۴ افغانۍ لري په ۴۲ افغانیو یې قلم او کتابچه راونیول اوس د احمد سره څو افغانۍ پاتې دي؟

۹۴-۴۲=۵۲

یا :

| | |
|---|---|
| ۹۴ | مفروق منه |
| − ۴۲ | مفروق |
| ۵۲ | د تفریق حاصل |

کریم ۱۳۸ کریته مڼې لري. که چیرې د هغو څخه ۲۸ کریته مڼې خرڅې کړي څو کریته مڼې له هغه سره پاتې دي؟

| |
|---|
| ۱۳۸ |
| − ۲۸ |
| ۱۱۰ |

یوه هټۍ وال ۳۹۸۰ متره توکر درلود که چیرې له هغو څخه یې ۷۸۰ متره توکر پلورلی وي څو متره توکر نور ورسره پاتې دی؟

| |
|---|
| ۳۹۸۰ |
| − ۷۸۰ |
| ۳۲۰۰ |

کورنۍ دنده

هر یو زده کوونکی دې یوه عبارتې پوښتنه ترتیب او حل کړي؟

## مشق او تمرین

١- لاندې پوښتنې حل کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ١٩٩٩٩ | ٦٨٩٢٧ | ٦٧٤٢ |
| _ ٦٩٩٩ | _ ٥٦٧٠٦ | _ ١٠٣٠ |

٢- په لاندې پوښتنو باندې د تفریق عملیې په خپلو کتابچو کې سرته ورسوئ.

| | | |
|---|---|---|
| ١٩٩٥٢ | ١٩٩٥٢ | ١٧٧٦٥ |
| _ ٢٦٤٢ | _ ١٧٣١٠ | _ ٢٦٤٢ |

١- داووه اویا زره له عـدد څخـه داووه زره عـدد تفریـق کړئ.

### کورنی دنده

د لاندې تفریق عملیې په خپلو کتابچو کې سرته ورسوئ.

| | | |
|---|---|---|
| ١٨٩٧٩ | ١٨٩٧٩ | ١٧٩٧٨ |
| _ ١٧١٣٢ | _ ١٨٤٧ | _ ١٨٤٧ |

# لسم لوست

## د پور اخېستلو په صورت کې د تفریق د عملیې سرته رسول

هدف: که چیرې د مفروق منه د کومې مرتبې رقم د مفروق د هم هغې مرتبې څخه کوچنی وي زده کوونکي د وروستي رقم څخه په پور اخیستلو سره د تفریق عملیه سرته ورسولای شي.

څرنګه چې د عددونو په جمع کولو کې مو یو لسی د یویزو له مرتبې څخه ولسیزو ته او یو سلی د لسیزو له مرتبې څخه د سلیزو مرتبې ته انتقال کړل، د عددونو په تفریق کې کولای شئ د لسیزو له مرتبې څخه یولسی د یویزو مرتبې ته او یا د سلیزو له مرتبې څخه لسیزو ته او یا د زریزو له مرتبې څخه د سلیزو مرتبې ته انتقال کړئ او د تفریق د عملیې په حل کې له هغه څخه کار واخلئ.

| | ۲ | ۱۴ | ۱۲ |
|---|---|---|---|
| | ۳ | ۵ | ۲ |
| − | ۱ | ۷ | ۵ |
| | ۱ | ۷ | ۷ |

**فعالیت:**

لاندې پوښتنې حل کړئ.

| | |
|---|---|
| | ۷۳۵۸ |
| − | ۶۳۵۹ |
| | |

| | |
|---|---|
| | ۳۰۰۰۶ |
| − | ۱۱۲۴۸ |
| | |

کورنی دنده

| | |
|---|---|
| | ۱۰۰۰۰ |
| − | ۹۹۹۱ |
| | |

**د جمعې او تفریق تمرینونه:**

۱- په چوکاټ کې دوه عددونه یو له بله سره جمع کړئ

| | |
|---|---|
| ۶۰۷ او ۵۸۳ | ۸۴۰ او ۷۰۳ |
| ۲۵۶۴ او ۸۴ | ۱۰۴ او ۱۱۱ |
| ۳۷۲ او ۶۴۱ | ۱۰۰ او ۲۱۳ |

۲- په چوکاټ کې دوه عددونه په نظر کې ونیسئ د لوی عدد څخه کوچنی عدد تفریق کړئ.

| | |
|---|---|
| ۱۰۰۰ او ۹۷۸ | ۴۸۱ او ۱۷۳۲ |
| ۱۹۲ او ۶۴۰ | ۳۲۵ او ۷۸۶ |
| ۱۷۶ او ۸۷ | ۳۰۰۵ او ۱۰۹ |

۳- ۱۸۰ کسانو چې سرې او شنې جامې یې آغوستې دي، د ځغاستې په یوې لوبې کې یې ګډون وکړ که چیرې ۹۲ تنو یې سرې جامې آغوستې وي څو تنو یې شنې جامې آغوستې دي؟

کورنی دنده

په یوه لومړني ښوونځي کې ۴۸۲ زده کوونکي دي که چیرې ۱۷۴ یې نجوني وي د هلکانو شمیر معلوم کړئ.

۵- په یوه الوتکه کې ۳۵۰ تنه مسافر دي ۲۳۰ تنه يې په یوه هوائي ډګر کې کوز شول او ۱۲۰ تنه نور نومورې الوتکې ته وختل. اوس د مسافرينو شمير څو تنه دي؟

۶- په یوه کارتن کې ۱۰۰ دانه ييز دوه قطيه قلمونه و. که چيرې ۶۸ داني قلمونه زده کوونکو ته ويشل شوي وي نور څو داني قلمونه پاتې دي؟

۷- که چيري د درېم (الف) په ټولګي کې ۳۷ زده کوونکي او د درېم (ب) په ټولګی کې ۴۳ زده کوونکي شامل وي ، په داسې حال کې که په دواړو ټولګيو کې ۲۰ نجوني وي په دواړو ټولګيو کې د هلکانو شمير معلوم کړئ؟

۸- د چرګانو په دوو فارمونو کې ۶۰۰ چرګان دي. که چيرې په یوه فارم کې ۲۷۹ چرګان وي د بل فارم د چرګانو شمير معلوم کړئ.

۹- د چرګانو په یوه فارم کې ۲۰۵ چرګې او په بل کې ۳۱۱ چرګې دي. په دواړو فارمونو کې د جوړو چرګو شمير معلوم کړئ په داسي حال کې چې د دغو د ناروغو چرګو شمير ۲۱ دي؟

کورنی دنده

د تفريق يوه عبارتي پوښتنه وليکئ او حل يې کړئ.

۱۰- لومړی جمع کړی بیا د لاسته راغلی د جمعې له حاصل څخه هر یو د جمعې جز تفریق کړئ.

١٤٢١
٢١٨ +
———

۱۱- احمد یو خوراك، محمود دوه خوراکه او سلیم درې خوراکه کباب وخوړل او د هوټل خاوند ته یې ۵۰۰ افغانۍ ورکړې که چیرې د یو خوراك کباب قیمت ۵۰ افغانۍ وي معلوم کړئ چې هوټلي څو افغانۍ بیرته ورکړې؟

۱۲- کریم ۹۸۰ افغانۍ درلودې خپلو درو زامنو هر یوه ته یې ۹۹ افغانۍ د ښوونځي د اړتیا شیانو لپاره ورکړې، معلوم کړئ چې د کریم سره څو افغانۍ پاتې دي؟

۱۳- د ؟= ۶۴ - ۱۲۵ د تفریق عملیه په نظر کې ونیسئ او حل یې کړئ! بیا داسې عبارت ورته ولیکئ چې د عملیې مفهوم وښيي.

**کورنی دنده**

لاندې پوښتنې دې زده کوونکي په خپلو کتابچو کې ولیکي او حل دې کړي.

۱-
١٠٩
٦١٣
٧٨ +
[ ]

۲-
٤٠٣٩
٧٠٤٧
٢٠ +
[ ]

۳-
٨١١٠
٦١٨ −
[ ]

۱٤- د (۷۸۶۴۲) او (۱۹۸۷۶) عددونو څخه کوم یو يې لوی او کوم يې کوچنی دی؟ له لوی عدد څخه کوچنی عدد تفریق کړئ!

۱٥- د لاندې پوښتنو تش ځایونه د <، = او > په مناسبو نښو سره ډك کړئ!

| | | |
|---|---|---|
| ۷٦۴۲ | ☐ | ۲۳۴۵۱ |
| ۴۳۲۱٦+۳۰۴ | ☐ | ۴۳۵۲۰ |
| ۴۳۵۲۰-۳۰۴ | ☐ | ۴۳۲۱٦ |
| ۸۷۹۸٦ | ☐ | ۷۸۴۳۰ |

کورنی دنده

| | |
|---|---|
| ۷۶۴۲۱ | ۱۸۰۴۲ |
| - ۶۷۸۴۰ | - ۸۷۲۴ |
| ☐ | ☐ |

| | |
|---|---|
| ۱۰۰۰۰۰ | ۱۰۰۷۶ |
| - ۹۲۴۶۸ | - ۹۳۲۷ |
| ☐ | ☐ |

# يوولسم لوست

## د تفريق د عمليې ازموينه

هدف: زده کوونکي پوه شي چې د تفريق پوښتنه يې په صحيح توګه حل کړې ده او که نه؟

د دې لپاره چې باوري شو د تفريق پوښتنه مو په صحيح او سمه توګه حل کړې ده او که نه؟ هغه په لاندې توګه آزمويو:

**مثال**

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۸ | ۳ | ۴ | مفروق منه |
| − ۴ | ۲ | ۲ | مفروق |
| ۴ | ۱ | ۲ | د تفريق حاصل |

**آزموينه**

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴ | ۱ | ۲ | د تفريق حاصل |
| + ۴ | ۲ | ۲ | مفروق |
| ۸ | ۳ | ۴ | مفروق منه |

د تفريق د عمليې د آزموينې لپاره لومړی د تفريق حاصل له مفروق سره جمع کوو که چيرې مفروق منه لاس ته راشي پوښتنه صحيح ده او له هغه پرته غلطه ده.



**فعاليت:**

۱- د پورته حل شوي مثال په توګه لاندې پوښتنې په خپلو کتابچو کې حل او وآزمويئ!

۸۴۴۷
_۶۲۴۵

۷۶۲۹
_۴۵۵۲




**کورنۍ دنده**

هر زده کوونکی دې په خپله يوه پوښتنه وليکي او حل دې کړي بيا دې وآزمويي.

۱- لاندې پوښتنې په خپلو کتابچو کې حل او امتحان کړئ.

الف:

| |
|---|
| ۶۴۲۰ |
| ۱۸۴۰ - |

ب:

| |
|---|
| ۷۳۲۵ |
| ۱۹۷۶ - |

ج:

| |
|---|
| ۱۰۰۰۰۰ |
| ۹۹۹۹۹ - |

۲- یوه بڼوال ۱۰۸۰ نیالګي وپلورل، ۲۱۰ نیالګي له هغه سره پاتې شول. معلوم یې کړئ چې نوموړي بڼوال ټول څو نیالګي درلودل؟

۳- یوه مال لرونکي ۱۲۰۰۰ میږې درلودې، نوموړي ۹۰۴ میږې وپلورلې معلوم کړئ چې څو میږې ورسره پاتې دي؟

۴- یوه دکان دار په څلورو ورځو کې د ۸۷۶۰۲ افغانیو توکر پلورلی دی. که چیرې په لومړۍ ورځ یې د ۱۰۸۰۰ افغانیو، په دویمه ورځ یې د ۱۶۰۷۰ افغانیو او په دریمه ورځ یې د ۳۸۰۰۰ افغانیو توکر پلورلی وي. د هغه د څلورمې ورځې پلورنه معلومه کړئ؟

۵- یو تن مامور په میاشت کې ۳۴۰۰ افغانۍ معاش اخلي که چیرې په ۹۰۰ افغانۍ اوړه واخلي ۲۰۰۰ افغانۍ د کور کرایه ورکړي. څو افغانۍ له هغه سره پاتې کیږي؟

٦- یوه بزګر په یو کال کې ۵۰۰ منه غنم حاصل واخیست، ۲۰۰ منه یې د خپل خوراك لپاره وساتل، پاتې څومره غنم وپلوري تر څو خپلې نورې اړتیاوې بشپړې کړي؟

کورنی دنده

زده کوونکي دې د خپلې پوهې او ذوق سره سم د تفریق یوه عبارتي پوښتنه ترتیب کړي، بیا دې هغه حل او وآزمويي؟

# پنځم فصل

# د عددونو خط

## دوولسم لوست: د عددونو خط

هدف: زده کوونکي د عددونو خط وپيژني او په ترتيب سره عددونه په هغه بانديې وليکلای شي.

### فعاليت

**۱_ د عددي كارتونو د شكلونو څخه په كار اخيستنې سره د لاندې جدول تش ځايونه ډك كړئ!**




| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | | ۳ | | | ۶ | | | | ۱۰ | | ۱۲ | | | ۱۵ | | | ۱۸ | | |

**۲_ د پورته ډك شوي جدول څخه په كار اخستنې سره د لاندې خط په هغو ټكو بانديې چې عدد ليكل شوی نه دی په ترتيب سره په خپلو كتابچو كې د هغو اړوند عدد وليكئ.**




پاملرنه:

**الف: صفر د پيل په نقطه كې قرار لري.**

**ب: د صفر نقطه د عددي خط د پيل (مبدأ) په نامه يادېږي.**

**ج: دا ډول خط د عددونو د خط په نامه يادېږي.**

**د: د ۵، ۶، ۷، ۱، ۴، ۲، ۳، عددونه داسې ترتيب كوو.**

۱،۲،۳،۴،۵،۶،۷

## مشق او تمرین

۱- د عددونو یو خط په خپلو کتابچو کې رسم کړئ! د هغه په مخ باندې لس نقطې په مساوي فاصلو سره جلا کړئ په ترتیب سره عددونه له کیڼ لوري څخه ښي لوري ته ولیکئ!

۲- یو زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته په قدم وهلو پیل وکړي او نور زده کوونکي دې د هغه قدمونه حساب کړي او د عددونو د خط په مخ باندې دې وښیي.

۳- د ۳، ۵، ۲، ۷، ۶ او ۴ عددونه په ترتیب سره د عددي خط په مخ ولیکئ.

۴- د ۹، ۳، ۶، ۲، ۵، ۷، ۱۰، ۸، ۱ او ۴ عددونه په ترتیب سره د کوچنیو عددونو، څخه د لویو عددونو خواته ولیکئ!

۵- د لاندې عددونو عددي خط نقطې په نظر کې ونیسئ! عددونه په ترتیب سره د کیڼ لوري څخه ښي لوري ته ولیکئ!



## کورنی دنده

د عددونو خط په خپلو کتابچو کې رسم کړئ! د ۸، ۶، ۷، ۵، ۴، ۲، ۱ او ۳ عددونه په ترتیب سره د عددونو په خط باندې ولیکئ.



هدف: زده کوونکي لسونو ته نژدې عددونه یعنی(۱۰ ، ۲۰ ، ۳۰، ۴۰ ، .... ته نـژدی عددونـه) تشخیص کړای شي.

مثال: د ۲۲ عدد د عددونو په خط باندې په لاندې توگه ښودل شوی دی، د ۲۲ عدد کوم یوه لسونو ته نژدې دی؟یعنی۲۰ ته او کـه ۳۰ تـه نژدې دی؟




د خط په مخ باندې لیدل کیږي چې د ۲۲ عدد د ۲۰ او ۳۰ عـددونو په منځ کې قرار لري څرنگه چې ۲۲ لـه ۲۰ څخـه د ۲ واحـدونو پـه اندازه او له ۳۰ څخه د ۸ واحدونو په اندازه فاصلـه لـري نـو ۲۲ د ۲۰ عدد ته نژدې دی، نسبت د ۳۰ عدد ته نوموړ ۲۲ د ۲۰ په نـژدې والی کې حساب وو.

**پوښتنه**: آیا د۲۵ عدد ۲۰ ته نږدې دی او که ۳۰ ته؟




**ځواب**: ۲۵ د ۲۰ او ۳۰ په منځ کې پروت دی. کله چې داسې پیښه شي موږ وایو دواړو ته یو شان فاصله لري.



**پوښتني**:

۱- هغه عددونه چې د ۱۰ او ۲۰ په منځ کې قرار لري کوم یې ۱۰ تـه او کوم یې ۲۰ ته نژدې دی؟ جلا جلا یې ولیکئ او کوم عـدد د۱۰ او ۲۰ په منځ کې پروت دی.

۲- هغه عددونه چې د ۳۰ او ۴۰ په منځ کې پراته دي کوم عددونه چـې ۴۰ ته نژدې دی؟ ویې لیکئ!

**کورنی دنده**

د ۹۳ ، ۹۸، ۹۷، ۹۵ او ۹۱ په عددونو کې کوم یو یې ۹۰ او کوم یو یـې۱۰۰ تـه نژدې دي جلا، جلا یې ولیکئ.

**مشق او تمرین**

۱- د عددونو خط ته په پاملرني سره د حل شوي مثال په توګه لاندي عددونه کوم يې ٦٠ او کوم يو يې ٧٠ ته نژدې دي.

مثالونه:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ٦١ | ٦٠ | ٦٧ | | ٦٤ | |
| ٦٩ | ٧٠ | ٦٣ | | ٦٦ | |




۲- لاندي د عددونو خط په نظر کې ونیسئ کوم یو یې ۴۰ ته او کوم یې ۵۰ ته نژدې دي؟




| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴۴ | | ۴۸ | | ۴٦ | |
| ۴۵ | | ۴۲ | | ۴۴ | |

۳- هغه عددونه چې ۷۰ ته نژدې دي په خپلو کتابچو کې په ترتیب سره ولیکئ!

--- --- ---

--- --- ---

۴- د ۴۰ او ٦۰ په منځ کې څو عددونه ۵۰ ته نژدې دي؟ په ترتیب سره ولیکی

**کورنی دنده**

د ۷۹، ۷۵ او ۷۶ عددونو څخه کوم یو یې اویا او کوم یو یې اتیاو ته نژدې دي؟ په خپلو کتابچو کې ولیکئ

# څوارلسم لوست: په عددي خط باندې د جمعې عملیه

هدف : زده کوونکي وکړای شي د جمعې عملیه په عددي خط باندې سرته ورسوي.

**مثال:** د ۸+۵=۱۳ د جمعې عملیه په عددي خط باندې داسې سرته رسوو.

لومړی د لاندې عددي خط په مخ باندې د صفر څخه د ۸ واحدونو په اندازه ښي خوا ته حرکت کوو او په نښه کوو، وروسته له هغه د په نښه شوې نقطې څخه د ۵ واحدونو په اندازه ښي خواته حرکت کوو. لیدل کیږي چې د ۱۳ عدد ته رسیږو دا عدد د ۸ او ۵ د عددونو د جمعې حاصل ښيي.




۸+۵=۱۳




د لاندې شکلونو له مخې د هر یوه د ریاضي افاده ولیکئ او د جمعې عملیه سرته ورسوئ!




___ + ___ = ___




___ + ___ = ___

**کورنۍ دنده**

لاندې عملیې د عددونو د خط په مخ باندې سرته ورسوئ.

۳+۴ = ۷ ۳+۶ =۹

## پنځلسم لوست: د عددونو په خط باندې د تفریق عملیه

هدف: زده کوونکي وکړای شي په د عددونو په خط باندې د تفریق عملیه سرته ورسوي.

**لومړی مثال:** غواړو د عددي خط په مخ باندې د ۱۱ له عدد څخه د ۶ عدد تفریق کړو. د عددي خط په مخ باندې د صفر له نقطې څخه د ۱۱ واحدو په اندازه ښي خواته حرکت کوو. وروسته د هم دغه عددي خط په مخ باندې د ۱۱ له عدد څخه کیڼې خواته د ۶ واحدو په اندازه شاته ګرځو، او حرکت کوو. لیدل کیږي داسې نقطې ته رسیږو، چې د ۵ عدد راښیې. د شکل له مخې معلومیږي چې د ۵ د عدد او د حرکت د لومړنۍ نقطې تر منځ فاصله ۵ واحده دی. او په ریاضي کې د هغه عملیه داسې لیکو. ۱۱-۶ = ۵




**دویم مثال:** د صفر له نقطې څخه ښی خواته ۱۲ واحده حرکت کوو تر څو د ۱۲ د عدد نقطې ته ورسیږو. وروسته له هغه د ۱۲ د نقطې څخه د ۸ واحدو په اندازه کیڼې خواته ګرځو، لیدل کیږي چې د ۴ دعدد نقطې ته رسیږو د هغه عملیه داسې لیکو.

۱۲−۸=۴




۱۲ − ۸ = ۴




۱- د پورته مثال په پام کې نیولو سره دلاندې شکلو نوله مخې د تشو ځایونو په کار ولو سره عملیې سرته ورسوی.




□ − □ = □




□ − □ = □

۲ - د تفریق لاندې عملیې په خپلو کتابچو کې سرته ورسوئ او د عددونو خط په مخ باندې وښیاست؟




١۶-٧ =?




١۴-٨=?




٨-٣=?

کورنی دنده

د خط په مخ باندې د لاندې عددونو د تفریق عملیه سرته ورسوئ.




٧-۴=?

# شپږم فصل
# ضرب

## شپاړسم لوست: د ضرب دعمليې مفهوم

هدف : زده کوونکي د ضرب عمليه چې د جمعې اجزاوې يې مساوي وي د جمع کولو د ډېرې لنډې طريقې په مفهوم وپوهېږي.

### فعاليت

لاندې شکلونه په نظر کې ونيسئ او په شفاهي توګه ورته ځواب ووایاست:

۱- په څو ښاخونو باندې دوه،دوه مرغۍ ناستې دي؟ ټولې څو کيږي؟



۲- څو ګلدانۍ وينئ؟ په هره ګلدانۍ کې څو ګلان دي؟ ټول څو ګلان کيږي؟



لومړی مثال:



څو قابه وينئ؟ په هر قاب کې څو ناکه دي؟ د ټولو ناکونو شمېر څو کيږي؟

۲+۲+۲+۲=۸

په پورته عمليه کې د ۲ رقم ۴ وارې ليدل کيږي په دې معنا چې: ۴ وارې ۲ د ۸ سره مساوي کيږي او د ضرب په شکل يې داسې ليکو. ۸=۴ × ۲ داسې لوستل کيږي،۲ضرب په ۴ کې مساوي له ۸ سره کيږي.

۲ مثال: د لاندې عددي خط په مخ باندې د ضرب افاده په پام کې نیسو:




$$۲+۲+۲+۲+۲=۱۰$$

$$۲\times۵=۱۰$$

**۳ مثال:**



شپږ ستوري په څلورو ګروپونو کې وینئ ټول څو ستوري کیږي؟

$$٦+٦+٦+٦=۲۴$$

هغه د ضرب په شکل داسې لیکو: $٦\times۴=۲۴$

**مشق او تمرین**

۱- د لاندې شکلونو د جمعې او ضرب افادې ولیکئ!



۲- د چاپېریال د موادو په واسطه د ۳×۴ افاده د جمعې په شکل وښیاست!

۳- د لاندې عددونو مجموعه د ضرب په شکل سره په خپلو کتابچو کې ولیکئ او حل یې کړئ.

$$۵+۵+۵+۵+۵+۵+۵+۵$$

___ × ___ = ___

**کورنی دنده**



مخامخ شکلونه په نظر کې ونیسئ د هغو د جمعې او ضرب افادې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او حل یې کړئ!

___ + ___ + ___ + ___ + ___ + ___ = ___

___ × ___ = ___

# ديوه رقمي عدد ضربول په دوه رقمي کې

هدف : هدف: زده کوونکي وکړای شي يو رقمي عدد په دوه رقمي کې ضرب کړي.

تاسو په دويم ټولګي کې د دوه رقمي او يو رقمي عددونو ضرب ولوستل اوس د لاندې پوهيدو د پاره د ٦٣× ٥ د ضرب حاصل له نظره تیر وو. په دې پوښتنه کې لومړی ٥ د يويزو له رقم يعنی ٣ سره ضربوو چې ١٥ کیږي د ٥ رقم د ضرب حاصل د يويزو په مرتبه کې ليکو د لسيزو مرتبه یې چې له ١ لس څخه عبارت دي د لسيزو د مرتبي دعدد په سر يې ياد داشت کوو. لکه:

$$\begin{array}{r} \overset{١}{٦٣} \\ \times\ ٥ \\ \hline ٥ \end{array}$$

اوس ٥ د لسيزو په مرتبه يعنی ٦ کې ضربوو چې د ضرب حاصل يې ٣٠ کیږي او د حاصل سره (١) چې ياد داشت شوی دی جمع کوو او په حاصل ضرب کې يې ليکو.

$$\begin{array}{r} \overset{١}{٦٣} \\ \times\ ٥ \\ \hline ٣١٥ \end{array}$$




لاندې عددونه يو له بل سره ضرب کړئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ١٥ × ٨ = □ | ٤١ × ٨ = □ | ٢٥ × ٧ = □ | ٤٤ × ٦ = □ |
| ٢٥ × ٩ = □ | ٣٠ × ٦ = □ | ٥٣ × ٧ = □ | ٢٢ × ٦ = □ |



**پوښتنې:**

۱- تش ځایونه د زباني ضرب او د ضرب د معلوم جز څخه په کار اخستنې سره په مناسبو عددونو سره ډك كړئ.

| | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | × | ۴ | = | ١٦ | | | × | ٣ | = | ٢٧ | | | × | ٢ | = | ١٨ |
| ٥ | × | | = | ٣٥ | | ۴ | × | | = | ٢۴ | | ٣ | × | | = | ٢۴ |

۲- د کیڼ لوري د جدول له بشپړولو وروسته د ښي لوري د جدول تش ځایونه په مناسبو عددونو سره ډك کړئ!

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٥ | × | ٥ | = | ٢٥ |
| ٦ | × | ٥ | = | |
| ٧ | × | ٥ | = | |
| ٨ | × | ٥ | = | |
| ٩ | × | ٥ | = | |
| ١٠ | × | ٥ | = | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٥ | × | ٥ | = | ٢٥ |
| ٥ | × | ٦ | = | |
| ٥ | × | ٧ | = | |
| ٥ | × | ٨ | = | |
| ٥ | × | ٩ | = | |
| ٥ | × | ١٠ | = | |

**کورنی دنده**

له لوبیا، وړو ډبرو او یا د چاپیریال له نورو توکو څخه په کار اخیستنې سره د لاندې جدول تش ځایونه په مناسبو عددونو سره ډك کړئ!

| × | ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ٥ | ٦ | ٧ | ٨ | ٩ | ١٠ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | | | | | | | | | | |
| ٢ | | | | | | | | | | |
| ٣ | | | | | | | | | | |
| ۴ | | | | | | | | | | |
| ٥ | | | | | | | | | | |

بسم الله الرحمن الرحيم

**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب د پراختیا او د
ښوونکو د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# ریاضي

## دریم ټولګی

**د چاپ کال: ۱۳۹٦ هـ . ش.**

# د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمېټې

## لیکوالان:

- سرمؤلف الحاج عبدالله شاه د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارتمنت غړی
- سرمؤلف عبدالکبیر د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارتمنت غړی
- سرمؤلف نظام الدین د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارتمنت غړی

## تایید او مطالعه:

### ملي شورا:

- د ولسي او مشرانو جرګو د دیني، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.

## د څېړنې او تدقیق کمېټې:

### پوهنې وزارت:

- سر مؤلف امان الله د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارتمنت غړی.
- سر مؤلف میر نقیب الله د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د څېړنې او ارزونې د دیپارتمنت آمر.
- دوکتور ننګیالی ارسلا د پوهنې وزارت سلاکار.
- محمد عزیز تحریک د پښتو دیپارتمنت آمر، اډیتور.

## ژباړونکی:

سرمؤلف نظام الدین د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارتمنت غړی.

## د محتوا، دیني او سیاسي فرهنګي برخو د څېړنې او بررسۍ کمیټه:

- دوکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلاکار.
- د مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د پښتو دیپارتمنت علمي غړی.

## د څېړنې او تدقیق د څارنې کمیټه:

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین
- دکتور شېر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس

**طرح او ډیزاین:** حمیدالله غفاري و سیدکاظم (کاظمی)

**د چاپ د سمون چارې:** محمد کبیر حقمل د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو رئیس.

## بسم الله الرحمن الرحیم

## د پوهنې د وزیر پیغام

د لوی خدای ﷻ ډېر شکر دی چې انسان یې په احسن تقویم کې پیدا او هغه ته یې د خبرو کولو توان ورکړ او د علم او فکر پر ګاڼه یې سمبال کړ. ډېر درود دې وي د اسلام پر ګران پیغمبر حضرت محمد مصطفی ﷺ چې د انسانیت ستر ښوونکی دی او د رحمت، لارښوونې او روښنایی پیغام راوړونکی.

ښوونه او روزنه په هره ټولنه کې د بدلون او پراختیا بنسټ دی. د ښوونې او روزنې اصلي موخه د انسان د بالقوه ځواکونو فعالول او د هغه د پټو استعدادونو غوړول دي.

درسي کتاب د ښوونې او روزنې په بهیر کې یو مهم رکن بلل کیږي چې له نوو علمي بدلونونو او پرمختګونو سره اوږه په اوږه د ټولنې له اړتیاوو سره سم تالیف کیږي. درسي کتابونه باید د منځپانګې له مخې خورا بډای وي چې وکړای شي د علومو له نوو لاسته راوړنو سره مل دیني او اخلاقي زده کړې د نوو میتودونو له لارې زده کوونکو ته ولیږدوي.

دغه کتاب چې اوس ستاسو په واک کې دی، د همدغو پورته ځانګړنو پر بنسټ چمتو او تالیف شوی دی. د پوهنې وزارت تل زیار باسي چې په هیواد کې تعلیمي نصاب او درسي کتابونه د اسلامي ښوونې او روزنې او د ملي هویت د ساتلو پر بنسټ جوړ او له علمي معیارونو، نوو روزنیزو میتودونو او د نړۍ له علمي پرمختګونو سره سم چمتو کړي. د زده کوونکو استعدادونه په ټولو اخلاقي او علمي خواوو کې وغوړیږي او په هغوی کې د تفکر او نوښت توان او د پلټنې حس پیاوړی کړي. د خبرو اترو او پیرزوینې د فرهنګ دودول، د هیواد پالنې او د مینې او محبت د حس پیاوړی کول، ښښنه او پیوستون د پوهنې د وزارت نورې غوښتنې دي چې ښایي د لوست په کتابونو کې ورته پام وشي.

درسي کتابونه د ښه او مسلکي ښوونکي له درلودو پرته نشي کولای ټاکل شوي موخې ترلاسه کړي. ښوونکی د ښوونې او روزنې یو مهم جزء او د ښوونې او روزنې د پروګرامونو پلي کوونکی دی. د هیواد له ژمنو او زړه سواندو ښوونکو څخه، چې د تورتم او ناپوهۍ په وړاندې یې جګړه خپله دنده ګرځولې، دوستانه هیله لرم د تعلیمي نصاب په دقیق او مخلصانه تطبیق کې د هیواد ماشومان، نجونې او تنکي ځوانان د پوهې، اخلاقو او معنویت لوړو څوکو ته ورسوي.

د هیواد د زده کړې د نظام برۍ د خلکو له جدي مرستو پرته امکان نه لري. له دې امله له ټولو قشرونو او د ملت له شریفو خلکو، په تیره بیا له کورنیو او د زده کوونکو له درنو اولیاوو څخه هیله لرم چې د معارف د موخو د لاسته راوړو په برخه کې له هیڅ ډول مرستې څخه ډډه ونه کړي. دغه راز له ټولو لیکوالو، پوهانو، د ښوونې او روزنې له ماهرینو او د زده کوونکو له محترمو اولیاوو څخه هیله کیږي چې په خپلو رغنده نظرونو، وړاندیزونو او نیوکو د درسي کتابونو په لاښه والي کې د پوهنې له وزارت سره مرسته وکړي.

لازمه بولم چې له ټولو پوهو مولفینو او د پوهنې د وزارت له اداري او فني کارکوونکو څخه چې د دغه کتاب په چمتو کولو کې یې زیار ایستلی او له ټولو ملي او نړیوالو بنسټونو څخه چې د درسي کتابونو د چاپ او ویش په برخه کې یې مرسته کړې، مننه وکړم.

په پای کې له لوی خدای ﷻ څخه غواړم چې په خپله بې پایه مهربانۍ له موږ سره د پوهنې د سپیڅلو ارمانونو په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي. انه سمیع قریب مجیب.

**د پوهنې وزیر**

**دوکتور اسدالله حنیف بلخي**

# د کتاب د محتوا فهرست


| مخ | عنوانونه | شمېره |
| --- | --- | --- |
| | **لومړی فصل** | |
| ۱ | د عددونو مقامي قيمت ........................................ | ۱ |
| ۹ | تجسس او تخمين کول ........................................ | ۲ |
| ۱۱ | د عددونو لوستل او ليکل له (۱۰۰۰) څخه تر (۱۰۰۰۰) پورې | ۳ |
| ۱۵ | د عددونو پېژندنه له ۱۰۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰۰ پورې .. | ۴ |
| | **دويم فصل** | |
| ۱۸ | د جمعې په عمليې کې د لس دانه ييزو ګروپونو له جوړولو څخه کار اخستل | ۵ |
| ۲۰ | د څو رقمي عددونو جمع چې د جمعې حاصل يې له ۱۰۰۰۰۰ زيات نشي | ۶ |
| ۲۲ | د هغو عددونو جمع چې له دوو جزو څخه زياتې اجزاوي ولري | ۷ |
| ۲۴ | د جمعې د عمليی آزمايل | ۸ |
| | **دريم فصل** | |
| ۲۶ | له يو بل څخه د دوه رقمي، دري رقمي او څلور رقمي عددونو تفريق | ۹ |
| ۲۸ | د تفريق د عمليې سرته رسول د پور کولو (قرض) د اړتيا په صورت کې | ۱۰ |
| ۳۳ | د تفريق د عمليې آزموينه | ۱۱ |
| | **څلورم فصل** | |
| ۳۵ | د عددونو د خط پيژندنه | ۱۲ |
| ۳۷ | د دوولسونو په شا او خوا کې د عددونو پرتله | ۱۳ |
| ۳۹ | د عددي خط څخه په کار اخستنې سره د جمعې عمليه | ۱۴ |
| ۴۰ | د عددي خط څخه په کار اخستنې سره د تفريق عمليه | ۱۵ |
| | **پنځم فصل: ضرب** | |
| ۴۲ | د ضرب د عمليې د مفهوم پيژندنه | ۱۶ |
| ۴۶ | د ۶ او ۷ د ژبني ضرب جدول پيژندنه | ۱۷ |
| ۴۹ | د ۸ ، ۹ او ۱۰ عددونو د ژبني ضرب جدول پيژندنه | ۱۸ |
| ۵۲ | له (۱-۱۰) د ژبني ضرب له جدول څخه د کار اخيستلو طريقه. | ۱۹ |
| ۵۵ | د ضرب په عمليه کې د بدلون (تبديلي) خاصيت | ۲۰ |
| ۵۷ | د يوه عدد ضربول په ۱ ، ۱۰ او ۱۰۰ کې | ۲۱ |
| ۵۹ | د ۱۰ او ۱۰۰ ضربول په يوه عدد کې | ۲۲ |
| | **شپږم فصل: د اندازه کولو واحدات** | |
| ۶۳ | د اوږدوالي د اندازه کولو واحد ( متر) | ۲۳ |

| مخ | عنوانونه | شمېره |
|---|---|---|
| ۲۵ | د سانتي متر پېژندنه | ۲۴ |
| ۲۷ | د ديسي متر پېژندنه | ۲۵ |
| ۲۸ | د ملي متر پېژندنه | ۲۶ |
| ۷۰ | د کيلو متر پېژندنه | ۲۷ |
| | **اووم فصل: هندسه** | |
| ۷۱ | په شکلونو کې د ټکي (نقطې) ټوټه خط، نيمايي خط او خط پېژندنه | ۲۸ |
| ۷۴ | د خط د ډولونو پېژندنه | ۲۹ |
| ۷۶ | د زاويو د ډولونو پېژندنه | ۳۰ |
| | **اتم فصل** | |
| ۸۰ | د خلاصو او تړلو شکلونو پېژندنه | ۳۱ |
| ۸۲ | تخميني او دقيق اندازه کول | ۳۲ |
| ۸۴ | د مربع، مستطيل او مثلث د محيط (چاپيريال) پيدا کول | ۳۳ |
| | **نهم فصل: د کتلې، وخت او مايعاتو اندازه کول** | |
| ۸۷ | د کتلې د اندازه کولو واحد (کيلوګرام) | ۳۴ |
| ۹۱ | د ساعت (ګړۍ) پېژندنه | ۳۵ |
| ۹۵ | د ساعت په واسطه د وخت ټاکل | ۳۶ |
| ۹۸ | د اونۍ – مياشت او کال پېژندنه | ۳۷ |
| ۹۹ | د جنتري پېژندنه | ۳۸ |
| ۱۰۳ | د ليتر پېژندنه | ۳۹ |
| ۱۰۵ | د يوه رقمي عددونو ضرب کول په څو رقمي عددونو کې. | ۴۰ |
| ۱۰۷ | د دوه رقمي عددونو ضرب کول په دوه رقمي عددونو کې | ۴۱ |
| | **لسم فصل** | |
| ۱۱۴ | د وېش (تقسيم) د عمليې پېژندنه | ۴۲ |
| ۱۱۷ | د دوه رقمي عددونو وېشل په يوه رقمي عددونو باندې | ۴۳ |
| ۱۲۱ | د دري رقمي عددونو وېشل په يوه رقمي عدد باندې | ۴۴ |
| ۱۲۴ | د ضرب او وېش د عمليو آزموينه د يو بل په واسطه | ۴۵ |
| | **يوولسم فصل: کسر** | |
| ۱۲۷ | د کسر پېژندنه | ۴۶ |

# اووه لسم لوست: د ۶ او ۷ د زباني ضرب جدول

هدف: زده کوونکي د ۶ او ۷ زباني ضرب زده کړي او کار ور څخه واخیستلی شي.

**پاملرنه وکړئ!**

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | × | ۷ | = | ۷ |
| ۲ | × | ۷ | = | ۱۴ |
| ۳ | × | ۷ | = | ۲۱ |
| ۴ | × | ۷ | = | ۲۸ |
| ۵ | × | ۷ | = | ۳۵ |
| ۶ | × | ۷ | = | ۴۲ |
| ۷ | × | ۷ | = | ۴۹ |
| ۸ | × | ۷ | = | ۵۶ |
| ۹ | × | ۷ | = | ۶۳ |
| ۱۰ | × | ۷ | = | ۷۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | × | ۶ | = | ۶ |
| ۲ | × | ۶ | = | ۱۲ |
| ۳ | × | ۶ | = | ۱۸ |
| ۴ | × | ۶ | = | ۲۴ |
| ۵ | × | ۶ | = | ۳۰ |
| ۶ | × | ۶ | = | ۳۶ |
| ۷ | × | ۶ | = | ۴۲ |
| ۸ | × | ۶ | = | ۴۸ |
| ۹ | × | ۶ | = | ۵۴ |
| ۱۰ | × | ۶ | = | ۶۰ |




د جدول له مخي دي د ٦ او ۷ زباني ضرب له یاده زده کړي.

۱. د زباني ضرب څخه په کار اخيستني سره لاندي تش ځايونه په مناسبو عددونو سره ډك كړئ!

| | |
|---|---|
| ☐ = ۷ × ۴ | ۲۴ = ☐ × ۴ |
| ۴۹ = ☐ × ۷ | ۲۴ = ۶ × ☐ |
| ۳۶ = ☐ × ۶ | ۲۸ = ۷ × ☐ |
| ۴۹ = ۷ × ☐ | ۳۵ = ☐ × ۷ |
| ۵۶ = ☐ × ۷ | ☐ = ۵ × ۶ |
| ۵۴ = ۶ × ☐ | ۴۲ = ۶ × ☐ |
| ☐ = ۷ × ۹ | ۴۸ = ☐ × ۶ |
| ۵۴ = ☐ × ۶ | ۵۶ = ۷ × ☐ |
| ۶۳ = ۷ × ☐ | ☐ = ۶ × ۷ |
| ۴۸ = ۶ × ☐ | ۳۵ = ۵ × ☐ |

لاندي عددونه ضرب كړئ!

| | | |
|---|---|---|
| ☐ = ۸ × ۵ | ☐ = ۹ × ۴ | ☐ = ۷ × ۳ |
| ☐ = ۵ × ۸ | ☐ = ۴ × ۹ | ☐ = ۳ × ۷ |



**پوښتنې:**

۱- لاندې پوښتنې حل کړئ!

| | |
|---|---|
| ۳ × ۸ = ☐ | ۴ × ۷ = ☐ |
| ۸ × ۳ = ☐ | ۷ × ۴ = ☐ |
| ۴ × ۸ = ☐ | ۵ × ۷ = ☐ |
| ۸ × ۴ = ☐ | ۷ × ۵ = ☐ |
| ۵ × ۸ = ☐ | ٦ × ۷ = ☐ |
| ۸ × ۵ = ☐ | ۷ × ٦ = ☐ |

۲. لاندې پوښتنې په خپلو کتابچو کې حل کړئ!

$$\begin{array}{r} 32 \\ \times \quad 6 \\ \hline \square \end{array} \qquad \begin{array}{r} 64 \\ \times \quad 7 \\ \hline \square \end{array}$$

$$\begin{array}{r} 46 \\ \times \quad 6 \\ \hline \square \end{array} \qquad \begin{array}{r} 76 \\ \times \quad 7 \\ \hline \square \end{array}$$

**کورنی دنده**

د ۸ او ۷ زباني ضرب جدول په خپلو کتابچو کې ولیکئ!

# اتلسم لوست: د ۸، ۹ او ۱۰ عددونو د زباني ضرب جدولونه

هدف : زده کوونکی د ۸ ، ۹ او ۱۰ په زباني ضرب پوه شي او په ورځني ژوند کې کـار ورڅخه واخلي.

**د زباني ضرب لاندې هريوه جدول ته پاملرنه وکړئ.**

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | × | ۸ | = | ۸ |
| ۲ | × | ۸ | = | ۱۶ |
| ۳ | × | ۸ | = | ۲۴ |
| ۴ | × | ۸ | = | ۳۲ |
| ۵ | × | ۸ | = | ۴۰ |
| ۶ | × | ۸ | = | ۴۸ |
| ۷ | × | ۸ | = | ۵۶ |
| ۸ | × | ۸ | = | ۶۴ |
| ۹ | × | ۸ | = | ۷۲ |
| ۱۰ | × | ۸ | = | ۸۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | × | ۹ | = | ۹ |
| ۲ | × | ۹ | = | ۱۸ |
| ۳ | × | ۹ | = | ۲۷ |
| ۴ | × | ۹ | = | ۳۶ |
| ۵ | × | ۹ | = | ۴۵ |
| ۶ | × | ۹ | = | ۵۴ |
| ۷ | × | ۹ | = | ۶۳ |
| ۸ | × | ۹ | = | ۷۲ |
| ۹ | × | ۹ | = | ۸۱ |
| ۱۰ | × | ۹ | = | ۹۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | × | ۱۰ | = | ۱۰ |
| ۲ | × | ۱۰ | = | ۲۰ |
| ۳ | × | ۱۰ | = | ۳۰ |
| ۴ | × | ۱۰ | = | ۴۰ |
| ۵ | × | ۱۰ | = | ۵۰ |
| ۶ | × | ۱۰ | = | ۶۰ |
| ۷ | × | ۱۰ | = | ۷۰ |
| ۸ | × | ۱۰ | = | ۸۰ |
| ۹ | × | ۱۰ | = | ۹۰ |
| ۱۰ | × | ۱۰ | = | ۱۰۰ |




کورنی دنده

**زده کوونکي دې د ۸ او ۹ ژبنی ضرب د کاغذ په توټو باندې وليکـي او يـاد دې کړي.**

## مشق او تمرین

۱- د ۸ ژبنی ضرب شخه په کار اخستني سره لاندې تش ځایونه ډك کړئ.

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | | | ۲۴ | | | | ۵۶ | | ۸۰ |

۲- د ۹ او ۷ د ژبنی ضرب په نظر کې نیولو سره لاندې تش ځایونه ډك کړئ.

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | ۱۸ | | ۳۶ | | | | | ۸۱ | |
| ۷ | | ۲۱ | | | ۴۲ | | | ۶۳ | |

۳- په یوه بڼ کې ۸ هلکان د منو په ټولولو بوخت دي که چیرې هر هلك ۷ دانې منې ټولې کړې وي معلوم کړئ چې ټولې یې څو منې ټولې کړې دي.

یادونه: لاندې مثال په پام کې ونیسئ.

۳×۸=۲۴ یا ۸×۳=۲۴




د پورته مثال سره سم لاندې پوښتنې په عددي خط باندې حل کړئ.

الف: ۲×۹=۱۸ ۹×۲=۱۸

ب: ٦×۴=۲۴ ۴×٦=۲۴

## پاملرنه

لاندې پوښتنې د حل شوي مثال په ډول حل کړئ.

۱ مثال:

| | |
|---|---|
| ۴۷ | ۱۲۸ |
| ۸ × | ۹ × |
| ۳۷۶ | ۱۱۵۲ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۱۴ | ۲۴ | ۳۸ |
| ۷ × | ۹ × | ۸ × |
| | | |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۷۸ | ۹۸ | ۲۸۹ |
| ۹ × | ۷ × | ۸ × |
| | | |

۲- د شکل په پام کې نیولو سره د ضرب ریاضیکی افادي ولیکئ.




**کورنۍ دنده**

ټول زده کوونکي دې د۸، ۹ او ۱۰ ژبنی ضرب له یاده زده کړي او په خپلو کتابچوکي دې ولیکي.

## نولسم لوست: د (۱ - ۱۰) پوري د ژبنی ضرب له جدول څخه د کار اخستلو طریقه

هدف: زده کوونکي د ژبنی ضرب جدول وپیژني او له هغه څخه کار واخستلای شي.

**د لاندې ژبنی ضرب جدول ته پاملرنه وکړئ:**

| × | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
| ۲ | ۲ | ۴ | ۶ | ۸ | ۱۰ | ۱۲ | ۱۴ | ۱۶ | ۱۸ | ۲۰ |
| ۳ | ۳ | ۶ | ۹ | ۱۲ | ۱۵ | ۱۸ | ۲۱ | ۲۴ | ۲۷ | ۳۰ |
| ۴ | ۴ | ۸ | ۱۲ | ۱۶ | ۲۰ | ۲۴ | ۲۸ | ۳۲ | ۳۶ | ۴۰ |
| ۵ | ۵ | ۱۰ | ۱۵ | ۲۰ | ۲۵ | ۳۰ | ۳۵ | ۴۰ | ۴۵ | ۵۰ |
| ۶ | ۶ | ۱۲ | ۱۸ | ۲۴ | ۳۰ | ۳۶ | ۴۲ | ۴۸ | ۵۴ | ۶۰ |
| ۷ | ۷ | ۱۴ | ۲۱ | ۲۸ | ۳۵ | ۴۲ | ۴۹ | ۵۶ | ۶۳ | ۷۰ |
| ۸ | ۸ | ۱۶ | ۲۴ | ۳۲ | ۴۰ | ۴۸ | ۵۶ | ۶۴ | ۷۲ | ۸۰ |
| ۹ | ۹ | ۱۸ | ۲۷ | ۳۶ | ۴۵ | ۵۴ | ۶۳ | ۷۲ | ۸۱ | ۹۰ |
| ۱۰ | ۱۰ | ۲۰ | ۳۰ | ۴۰ | ۵۰ | ۶۰ | ۷۰ | ۸۰ | ۹۰ | ۱۰۰ |

**د جدول نه د کار اخیستني طریقه:**

د ۵ × ۴د ضرب د پیدا کولو له پاره د ښي لاس یوې گوتې ته د لومړی لیك د ۴ له عدد څخه کښته خواته حرکت ورکړئ او د کیڼ لاس یوې گوتې د لومړی ستنې (ستون) د ۵ له عدد څخه ښئ خواته حرکت ورکړئ په نتیجه کې دواړه گوتې په یوه عدد باندې سره یو ځای کیږي کله چې عدد ولولئ لیدل کیږي چې د ۲۰ عدد دی چې د ۵× ۴ د عملیې د ضرب حاصل دی یعنې: ۲۰ = ۵ × ۴



**پوښتنې:**

۱- د جدول څخه په کار اخیستنې سره ځوابونه په خپلو کتابچو کې په تش ځایونو کې ولیکئ.

| | |
|---|---|
| ☐ = ۱۰×۱ | ☐ = ۵×٦ |
| ☐ = ٦×۸ | ☐ = ۷×۸ |
| ☐ = ۴×۸ | ☐ = ۹×٦ |

۲- لاندې عددونه یو له بله سره ضرب کړئ او ځوابونه یې دزباني ضرب په جدول کې پیدا کړئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | ۸ | ۹ | ۵ | ٦ | ۴ |
| × ٦ | × ۸ | × ٦ | × ۷ | × ۸ | × ۵ |
| ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |

۳- په متناوب ډول ، اته ، اته وشمیرئ او تش ځایونه ډک کړئ.

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | | | ۳۲ | | | ۵٦ | | ۷۲ | |

۴- د ژبنی ضرب څخه په کار اخستنې سره لاندې تش ځایونه په مناسبو عددونو سره ډک کړئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ☐ | ۹ | ۹ | ☐ | ☐ |
| × ٦ | × ☐ | × ٦ | × ۹ | × ۰ |
| ۰ | ۴۵ | | ۷۲ | ۰ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷ | ٦ | ۸ | ۸ |
| × ☐ | × ☐ | × ☐ | × ☐ |
| ۰ | ۵۴ | ۸ | ۰ |

۵- په ۸ ،٦ او ۴ عددونو کې ډیر لوی عدد له ډیر کوچني عدد سره ضرب او د ضرب حاصل یې پیدا کړئ.

$$\begin{array}{c} \square \\ \square \\ \hline \square \end{array}$$

٦- لطیفې ۹ قطعې تباشیر راونیول که چیرې په هرې قطعې کې ۸ قلمه تباشیر وي معلوم یې کړئ چې لطیفې څو قلمونه تباشیر رانیولي دي؟

۷- د ژبنۍ ضرب د جدول په مرسته لاندې جدول ډک کړئ.

| × | ۸ | ۷ | ۹ | ۵ | ٦ |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | | | | | |
| ۷ | | | | | |
| ۹ | | | | | |

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې لاندې پوښتنې حل کړي.

$$\begin{array}{r} ۱۴ \\ \times\ ۷ \\ \hline \square \end{array} \qquad \begin{array}{r} ۱۵ \\ \times\ ۸ \\ \hline \square \end{array} \qquad \begin{array}{r} ۲۲ \\ \times\ ۹ \\ \hline \square \end{array}$$

# شلم لوست: د ضرب په عملیه کې د بدلون (تبدیلی) خاصیت

هدف: زده کوونکي په ضرب کې د بدلون په خاصیت پوه او په ضرب کې د بدلون خاصیت سر ته ورسوي.

**لومړی مثال:** تاسو پوهیږئ چې : ٦+٦+٦+٦+٦=٣٠

یا:

د ضرب لومړی جز — د ضرب دویم جز — د ضرب حاصل

٦ × ٥ = ٣٠

اوس غواړو چې د ٥ عدد ٦ واري جمع کړو.

٥+٥+٥+٥+٥+٥=٣٠

یا:

د ضرب لومړی جز — د ضرب دویم جز — د ضرب حاصل

٥ × ٦ = ٣٠

د دوو پورتنیو افادو له پرتله کولو څخه نتیجه اخستل کیږي چې د ضرب د اجزاو د ځایونو په بدلون سره د ضرب حاصل بدلون نه کوي. یعني:

٦×٥=٥×٦=٣٠



**فعالیت:**

١- د ٥٦= [ ] ×٧ افاده په نظر کې ونیسئ.

الف: د ضرب کوم جز نا معلوم دی؟ ـــــــــــ

ب: د ٧ عدد د ضرب کوم جز دی؟ ـــــــــــ

ج: د ٥٦ عدد په څه نامه یادیږي؟ ـــــــــــ

د: نامعلوم جز یا تش ځای په یوه مناسب عدد سره ډک کړئ.

**کورنی دنده**

د ٥٦=٧× [ ] په افاده کې.

الف: د ضرب کوم جز نامعلوم دی؟ ـــــــــــ

ب: نامعلوم جز یا تش ځای په یوه مناسب عدد سره ډک کړئ.

ج: د (۱) او (۲) پوښتنو افادې یو له بله سره پرتله کړئ وواياست چې څه توپير لري؟

د: کومه پايله چې د (۱) او (۲) پوښتنو له پرتله کولو څخه لاس ته راغلې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

---




۱- د حل شوي مثال په ډول تش ځايونه په مناسبو عددونو سره ډك كړئ.

مثال

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | × | ٦ | = | ٦ | × | ۷ | = | ۴۲ |
| ٦ | × | | = | | × | ٦ | = | ۵۴ |
| ۷ | × | ۸ | = | | × | ۷ | = | ۵٦ |

۲- د کین لوري د ضرب څخه په کار اخستنې سره د ښي لوري د ضرب تش ځايونه بشپړ کړئ.

| | | | | | | | ↔ | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | × | ۷ | = | | ↔ | ۷ | × | | = | ۴۲ |
| ۹ | × | ۷ | = | | ↔ | | × | ۹ | = | ٦۳ |
| ۳ | × | ۸ | = | | ↔ | ۸ | × | | = | |
| ٦ | × | ۴ | = | | ↔ | | × | ٦ | = | ۲۴ |
| ۷ | × | ۳ | = | ۲۱ | ↔ | ۳ | × | | = | |

---

۳- په لاندې پوښتنو کې تش ځايونه ډك كړئ.

الف: [ ] × ۴ = ۴

ب: ۶ × [ ] = ۰

ج: ۷ × [ ] = ۷

---

۴- لاندې جدولونه بشپړ کړئ.

| × | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ٦ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | | | ۳۰ | | | ٦۰ | | | ۹۰ | |

| × | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ٦ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | ۷ | | | ۲۸ | | | ۴۹ | | | |

| × | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ٦ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | | ۱٦ | | | ۴۰ | | ۵٦ | | ۷۲ | |

کورنی دنده

په لاندې تشو ځايونو کې داسې عددونه وليکئ چې د ضرب حاصل بدلون ونکړي.

[ ] × ۴ = ۴ × ۷ = [ ]

۸ × ۴ = [ ] × ۸ = [ ]

# يو ويشتم لوست: د يوه عدد ضربول په ۱ ، ۱۰ او ۱۰۰ کې

هدف: ۱- زده کوونکي د يوه عدد ضربول په ۱ ، ۱۰ او ۱۰۰ کې د يوي آساني طريقى په توګه وپيژني.




په لنډ ډول داسې ليکل کيږي.

$$۱\times۵= ۵$$

کولای شو چې د ضرب عمليه په لاندې ډول هم وښيو.



په پورته شکل کې ۵ داني منې يو وارې وينو نو د ضرب عمليه يې داسې ليکو.

$$۱\times۵= ۵$$

له پورته دوو عمليو څخه دا نتيجه لاس ته راځي که چيرې (۱) په هر عدد کې او يا هر عدد په (۱) کې ضرب شي د ضرب حاصل يې په خپله هم هغه عدد دی ، نو ليکلی شو چې:

$$۱ \times ۸ = ۸$$

$$۸ \times ۱ = ۸$$

$$۴ \times ۱ = ۴$$

$$۱ \times ۴ = ۴$$

$$۶۴ \times ۱ = ۶۴$$

$$۱ \times ۶۴ = ۶۴$$

## فعالیت

**په تشو ځایونوکې د حل شوي مثال په ډول مناسب عددونه ولیکئ!**

**مثال :** ۱ × ۹ = ۹

| | | |
|---|---|---|
| ۱ × ۱ = ☐ | ۱ × ۷۱ = ☐ | ۱ × ۱۸۲ = ☐ |
| ☐ × ۱ = ۱۲۷۸ | ☐ × ۲۵۴ = ۲۵۴ | ☐ × ۴۲۰ = ۴۲۰ |
| ۲۷۸۱ × ۱ = ☐ | ۱۹۴ × ۱ = ☐ | ۳۰۷ × ☐ = ۳۰۷ |
| ۱ × ☐ = ۲۷۶۴ | ۷۰۰۲ × ۱ = ☐ | ۴۰۰۵ × ☐ = ۴۰۰۵ |
| ۶۰۱ × ۱ = ☐ | ۷۶۴۰ × ☐ = ۷۶۴۰ | ☐ × ۲۶۵ = ۲۶۵ |

**کورنی دنده**

**زده کوونکي دې د لاندې عددونو د ضرب حاصل په لاس راوړي!**

۱×۷۴۰ =? ۱۸۴× ۱ =? ٦۱× ۱ =?

## د ۱۰ ضربول په یوه عدد کې:

۱مثال:

۱۰+۱۰+۱۰+۱۰+۱۰ =۵۰

تاسو پوهیږئ چې:

۱۰ پنځه واري جمع شوی دئ.

۱۰×۵ =۵۰



۲مثال : ۱۰+۱۰+۱۰+۱۰+۱۰+۱۰+۱۰=۷۰

۱۰ اووه واري جمع شوی دئ .

۱۰×۷=۷۰




له پورته شکلونو او عملیو څخه معلومیږي که چیرې ۱۰ په هر عدد کې ضرب شي او یا هر عدد په ۱۰ کې ضرب شي، لومړی یو په هم هغه عدد کې ضربوو بیا د ضرب د حاصل ښي خواته یو صفر لیکو یا په لنډه توګه د هم هغه عدد ښي خواته یو صفر ږدو او د ضرب د حاصل په ځای کې یې لیکو.

لکه:

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰×۷۶۸= | ۱۰×۱۳۴= | ۱۰×۹= |
| ۲۳۵۶×۱۰= | ۷۲۱×۱۰= | ۸×۱۰= |

کورنی دنده

لاندې جدول بشپړ کړئ

| × | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | | | ۳ | | ۵ | | | ۸ | |
| ۱۰ | | | ۳۰ | | ۵۰ | | | ۸۰ | |

## د ۱۰۰ ضربول په يوه عدد کې:

۱ مثال:



۱۰۰ + ۱۰۰ = ۲۰۰

دوه ځلي ۱۰۰ ليدل کيږي. ۲۰۰= ۲ × ۱۰۰

۲ مثال:



۱۰۰+۱۰۰+۱۰۰+۱۰۰+۱۰۰ = ۵۰۰

۱۰۰×۵= ۵۰۰

د پورتنيو عمليو او شکلونو څخه نتيجه لاس ته را ځي که چيرې ۱۰۰ په يوه عدد کې يا يو عدد په ۱۰۰ کې ضرب شي کولی شو عدد د ضرب د حاصل په ځای کې وليکو او ښي خواته يې دوه صفرونه کښيږدو.




دلاندې عمليو د ضرب حاصل پيدا کړی.

۶ × ۱۰۰ = ?

۶۷ × ۱۰۰ = ?

۲۱۳ × ۱۰۰ = ?

۴۷ × ۱۰۰ = ?

۱۶ × ۱۰۰ = ?

کورنی دنده

زده کوونکي دې لاندې پوښتنې حل کړي:

۱۰۰×۳ ۱۰۰×٤ ۱۰۰×٥



## پوښتني:

**لاندي پوښتني په خپلو کتابچو کې وليکئ! د لاندې حل شوو مثالونو په ډول يې حل او تش ځايونه يې ډك کړئ!**

**مثالونه**

١٠٠×١٠=١٠٠٠

١٠٠×٢=٢٠٠

١:-

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ١١٠٠ | = | ١١ | × | |
| ٢٥٠٠ | = | | × | ١٠٠ |
| ٢٠٠٠ | = | ٢٠ | × | |
| ٢٠٠٠ | = | ١٠٠ | × | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٤٠٠ | = | | × | ١٠٠ |
| ٦٠٠ | = | ٦ | × | |
| ٩٠٠ | = | | × | ١٠٠ |
| ٩٠٠ | = | | × | ٩ |

**٢-يوه سرې يوکارتن منې په ١٠٠ افغانيو وپلورلي د ٨ کارتنو قيمت ملعوم کړی.**

**٢-که يو کس په يوه ورځ ٢٥٠ افغانې اجوره واخلي د ١٠٠ ورځو اجوره يې څو افغانې کيږي؟**

### کورنی دنده

**که چېرې په يوه کارتن کې ١٠٠ پاکته چاکليټ وي معلوم يې کړئ چې په ٧ کارتنوکې څو پاکته چاکليټونه دي؟**

## پوښتنې

۱ – لاندې عددونه یوله بله سره ضرب کړئ!

۱۰۰ × ۸۴     ۱۰ × ۸۲     ۱۰۰ × ۸۶

۱۰۰ × ۷۶۰     ۱۰۰ × ۸۹۰     ۱۰۰ × ۲۴۰

۷۴۰ × ۱۰۰     ۱۰ × ۶۰۴     ۶۰۴ × ۱۰

۲ – یوه هټۍ‌وال ۱۰۰ متره توکر وپلورل که چیرې د هغه د یوه متر توکر بیه ۱۸ افغانۍ وي، معلوم کړئ چې څو افغانۍ یې په لاس راوړې دي.

۳ – که چېرې یوې کورنۍ په یوه میاشت کې د ۱۰۰ افغانیو بوره رانیولې وي معلوم کړئ چې نوموړې کورنۍ به، په ۱۲ میاشتو کې دڅو افغانیو بوره را ونیسي؟

**کورنۍ دنده**

د ۷۰، ۸۴، ۹۳، ۹۰ او ۳۵ عددونه د (۱۰) او (۱۰۰) په عددونو کې ضرب کړئ د ۱۰ او ۱۰۰ د ضرب حاصل یې یوله بله سره پر تله او نتیجې یې ولیکئ!

# اووم فصل
# داندازه کولو واحدات

## دوه ویشتم لوست: د اوږدوالي د اندازه کولو واحد (متر)

هدف: زده کوونکي متر داوږدوالي د واحد په توګه وپیژنی او له هغه څخه په ورځني ژوند کې کار واخستلی شي.

فهیمې خپلې خورته ولیکل چې زه د کړکۍ یوې پردې ته اړتیا لرم مهرباني وکړه داسې یوه پرده راولیږه چې جګوالي یې ۱۰ لوېشتې او سور یې ۱۲ لوېشتې وي. د فهیمې خور ښارته ولاړه د خپلې خور له هدایت سره سم یې توکر راونیو پرده یې ور څخه و ګنډله او ور ویې لیږله. کله چې فهیمې پرده په کړکۍ باندې را وځړوله ډېره خواشېنې شوه. د هغې د خواشیني توب په علت پوهیږئ څه دی؟
څرنګه چې لویشتې یوله بله سره توپیر لري او پرده یې د اړتیا سره سمه نه وه ، لنډه شوه اوس تاسو ووایاست چې څه باید وکړو.



څرنګه چې د نړۍ ټول خلک د دغه ډول ستونزو سره مخامخ اولاس په ګرېوان وو، نو د نړۍ پوهانو او علماؤ د اوږدوالي واحد چې متر بلل کیږي ومانه، چې نن د اوږدوالي له همدې واحدڅخه کار اخستل کیږي.





**فعالیتونه:** ښوونکې دې دوه تنه دټولګی مخې ته را وغواړی او دیو بل په واسطه دې دهغوی قدونه اندازه کړي چې له یوه متر څخه کم دی او که زیات؟



**پوښتنې:**

۱- د خپل ټولګي اوږدوالی او سور د متر په واسطه اندازه کړئ

۲- ستاسو په ګروپ کې د کوم یوه غړي د قد اوږدوالي له یوه متر څخه زیات دی؟

۳- ستاسو په ګروپ کې د کوم یوه غړي د قد اوږدوالی له یوه متر څخه کم دی؟

۴- ستاسو د ټولګي اوږدوالی د هغه له سور څخه څومره زیات دی؟

۵- ستاسو د میز اوږدوالی له یوه متر څخه زیات دی او که کم؟

۶- ستاسو د میز سور له یوه متر څخه څولوښتي کم دی؟

**کورنۍ دنده**

د خپل کور د یوې کوټې اوږدوالی او سور د متر په واسطه اندازه کړئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

## درویشتم لوست: سانتي متر

هدف: زده‌کوونکی سانتی متر د متر د جزء (د یوه متر دسلمې برخې) په توګه وپیژني او په ورځني ژوند کې له هغه څخه کار واخلي.

تاسو به لیدلي وي چې توکر پلورونکي د توکرد رانیولو او پلورلو له پاره دیوي فلزي تونې څخه کار اخلي تر کاټان، معماران او مهندسان د شیانو د اوږد والي د اندازه کولو له پاره د متر له فیتو څخه کار اخلي ښاغلی ښوونکی دې د ټولګي د لیك دړې په مخ باندې دیوه متر په اندازه یو خط رسم کړي او د زده‌کوونکو پام دې ورته را وګرځوي. بیادې زده‌کوونکو ته دنده ورکړي هغه متر چې له لرګي، لښتې یا تار څخه یې جوړکړی دی. څرنګه ورڅخه کار اخلي؟ تر څو د ټولګي او میز اوږدوالی او سور اندازه کړي په ځینو حالاتو کې به ووینئ چې د میز اوږدوالی او سور له متر څخه زیات یا کم دی. په دې صورت کې اړتیا پیداکیږي چې د اوږدوالي کوچنی واحد هم وپیژنو نو که چېرې یو متر په سلو مساوي برخو جلا کړو هرې برخې ته یې یو سانتي متر وایي. تاسو کولی شئ سانتي متر د خپل خط کش په لیدو سره وپېژنئ.

۱متر = ۱۰۰ سانتي متره



=









**پوښتنې:**

۱- ستاسو خط کش څو سانتي متره دی؟




۲- ۱۰۰ سانتي متره څو متره کیږي؟

۳- د خپل کتاب اوږدوالی او سور اندازه کړئ.



۴- که چېري ستاسو د مېز اوږدوالی له یوه متر څخه زیات او له دو و مترو څخه لږ وي د اندازه کولو د کوم واحد څخه کار اخلئ؟



۵- د ا ب ، ب ج ، او ا ج د قطعه خطونو اوږدوالی اندازه کړئ و لیکئ چې هر یو څو سانتي متره دی؟




**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې د ۵ سانتیمترو، ۱۰ سانتیمترو او ۲۰ سانتیمترو په اندازه قطعه خطونه په خپلو کتابچو کې رسم کړي.

# څلور و یشتم لوست: د یسي متر

**هدف:** زده کوونکي وکولی شي د یسي متر د متر د جزء په توګه وپیژنی او د اړتیا په وخت کې کار ور څخه واخلي.



## فعالیتونه

هغه خط کش چې تا سو یې له خپل ځان سره لرئ کار ور څخه واخلئ او لاندې فعالیتونه سرته ورسوئ.

۱- ستاسو خط کش څو سانتیمتره دی؟
۲- د ۱۰ سانتیمترو په اندازه یو قطعه خط رسم کړئ.
۳- د یوې لښتي یاد کاغذ له تریشې څخه د ۱۰ سانتیمترو په اندازه جلاء کړئ.
۴- د جلاء شوې لښتي یا د کاغذ د تریشې په واسطه یو متر واټن اندازه کړئ.
۵- و وایاست ستاسو د جلاء شوې برخې څو لښتي یو متر کیږي؟

هغو زده‌کوونکو چې په دقیقه توګه یې کار سرته رسولی دی ښایې ووایي چې ۱۰ لښتي یا ۱۰ تریشې یو متر کیږي هغه دې تشویق شي او پوښتنې دې ور څخه وشي.

په تاسوکې څوک ویلی شي چې دغه د ۱۰ سانتیمتر ولښته په بل څه نامه یادیږي؟
باید وپوهیږئ چې دا د ۱۰ سانتیمتر و واټن یو دیسي متر بلل کیږي.
نو ویلی شو:

۱۰ دیسي متره = یو متر　　　　۱۰ سانتي متره = ۱ دیسي متر



**پوښتني:**

۱- ۴ متره څو دیسي متره کیږي؟
۲- د کریم د قد اوږدوالی ۱۳۰ سانتي متره دی د کریم د قد اوږدوالی په دیسي متر سره معلوم کړئ؟
۳- و وایاست چې ۱۲۵ سانتي متره څو دیسي متره او څوسانتي متره کیږي؟

**کورنی دنده**

د یوه دیسي متر جلا شوې لښتي څخه کار واخلئ د خپل کور د یوه وره سور اندازه کړئ وېې لیکئ چې څو دیسي متره او څو سانتي متره کیږي؟

# پنځه و یشتم لوست: ملی متر

**هدف:** زده کوونکي وکولی شي ملی متر و پیژني او د اوږدوالي د اندازه کولو د کوچني واحد په توګه ور څخه کار واخلي.

## فعالیتونه

لاندې شکل ته پاملرنه وکړئ.



دا شکل د یوه سانتیمتر واټن (فاصله) راښيي چې په لسو مساوي برخو ویشل شوئ دی.

هرې برخې ته یې یو ملي متر وایي په دې صورت کې.

۱۰ ملي متره = ۱ سانتي متر کیږي

۱- مثال: ۲ سانتي متره څو ملي متره کیږي ؟

حل: پوهیږو چې یو سانتي متر له لسو ملي مترو سره مساوي دئ نو ۲ سانتي متره مساوي کیږي له.

۲۰ ملي متره = ۱۰ ملي متره + ۱۰ ملي متره

یا ۲۰ ملي متره = ۲×۱۰ ملي متره

۲- مثال: غواړو چې د لاندې قطعه خط اوږدوالی د خط کش په واسطه اندازه کړو.




د خط کش صفر د (ا) له ټکي سره سم ږدو لیدل کیږی چې د هغه د (ب) ټکی د ۵ سانتیمترو څخه ۵ ملي متره زیات دی نو وایو چې ددې قطعه خط اوږدوالی ۵ سانتیمتره او ۵ ملي متره دئ.

په عمومي توګه لیکلی شو چې:

۱۰ دیسي متره = ۱ متر

۱۰۰ سانتي متره = ۱ متر

۱۰۰۰ ملي متره = ۱ متر

۱۰ سانتي متره = ۱ دیسي متر

۱۰ ملي متره = ۱ سانتي متر




د حل شوي مثال څخه په کار اخیستنې لاندې پوښتنې په خپلو کتابچو کې حل کړئ.

۱. ۴ سانتي متره څو ملي متره کیږي؟

۲. ٦ سانتي متره څوملي متره کیږي؟

۳. د خپل خط کش څخه په کار اخیستنې لاندې قطعه خطونه اندازه کړئ وواياست چې هر یو د هغو څو سانتي متره او څو ملي متره کیږي؟




۴. د ۵ سانتي مترو او ۵ ملي مترو په اندازه یو قطعه خط رسم کړئ

۵. یو قطعه خط رسم کړئ چې له ۵ سانتي مترو څخه ۲ ملي متره کم وي.

کورنی دنده

۳ سانتي متره څو ملي متره کیږي؟

۵ سانتي متره څو ملي متره کیږي؟

۴ دیسي متره څو سانتي متره او څو ملی متره کیږي؟

# شپږ ویشتم لوست: کیلو متر

**هدف:** زده کوونکي وکولی شي د متر څخه لوی واحد، کیلو متر وپیژني.

حامد له خپل پلار څخه پوښتنه وکړه. پلار جانه کوچني واټنونه(فاصلې) مو دديسي متر، د سانتي متر، ملی متر او متر په واسطه اندازه کړل، د دوو ښارونو تر منځ واټن په څه شي سره اندازه کوي؟ پلار یې ځواب ورکړ زویه، لوی واټنونه لکه د ښارونو او هیوادونو تر منځ واټنونه د کیلو متر په واسطه اندازه کیږي.

حامد پوښتنه وکړه کیلو مترڅه شی دی؟ پلار یې ځواب ورکړ یوزر (١٠٠٠) متر واټن ته یو کیلو متر وایي یعني.

١٠٠٠ متره = ١کیلومتر

مثال: که چیرې د دوو ښارونو ترمنځ واټن ٦ کیلو متره وي نوموړی واټن په متر سره حساب کړئ.

٦٠٠٠ متره = ١٠٠٠ متر + ١٠٠٠ متر + ١٠٠٠ متر + ١٠٠٠ متر+ ١٠٠٠ متر+١٠٠٠ متر

٦٠٠٠ متر = ٦×١٠٠٠

په پورته مثال کې سربېره پر دې چې د متر اوکیلو متر ترمنځ په رابطه پوه شوو که چیرې یو عدد په ١٠٠٠ کې ضرب شی کولی شو د ضرب په حاصل کې د هم هغه عدد ښي خوا ته دري صفرونه ولیکو.




١. ٤ کیلو متره له څو مترو سره مساوي کیږي؟
٢. ٧ کیلو متره له څو مترو سره مساوي کیږي؟
٣. ٢کیلو متره څو متره کیږي؟

**کورنی دنده**

١- د کابل او هرات ترمنځ واټن ١٠٩٣ کیلومتره دی، که چیرې د کابل او قندهار ترمنځ واټن ٥٠٥ کیلومتره وي، د قندهار او هرات ترمنځ واټن معلوم کړئ.





# اتم فصل

# هندسه

## اوه و يشتم لوست: نقط، قطعه خط، نيم خط او مستقيم خط

هدف: زده‌کوونکی نقط، قطعه خط، نيم خط(شعاع) او مستقيم خط وپيژني او يو له بله سره توپير وکړای شي.

**فعاليت**

تا سو لاندي هندسي شکلونو او نومونو ته پاملرنه و کړئ. او له هر يوه سره چې بلدتيا لرئ نوم يې واخلئ او رسم يې کړئ.




پورتني شکلونه په نظر کې ونيسئ او لاندې پوښتنو ته ځواب وواياست:

۱- دا (.) نښه چې د پنسل د څوکې په واسطه د کاغذ د پاڼې په مخ اېښودل شوې ده څه نومېږي؟

۲- د (ا●———●ب ) شکل دڅه په نامه يا دېږي؟

۳- که چيري د خپل پنسل څوکه په کاغذ باندي کښېږدو او په مستقيم ډول حرکت ورکړو څه شی لاس ته راځي؟

۴- په لاندې هر یوه شکل کې څو قطعه خطونه وجود لري؟




۵- که چیرې د (ا ب) قطعه خط د ښي او کیڼې خواته امتداد ورکړو کوم هندسي شکل لاس ته راځي.




د کاغذ پرمخ دوه نقطې وټاکی او بیا یې په مستقیمه توګه یو له بل سره ونښلوئ په دواړو نقطو باندې نومونه کیږدی یعنی ۱، ب، وواياست چې دا خط په څه نامه یادیږي؟

**کورنی دنده**

زده کوونکي دې لاندې شکلونه په خپلو کتابچو کې رسم کړي او دهغو نومونه دې ولیکي.



**پوښتنې:**

۱- له دې شکلونو څخه کوم يو يې مستقيم خط، کوم يو يې نيم خط(شعاع) او کوم يو يې قطعه خط دی؟




د ( ۱ ) ګڼې پوښتنې شکلونه په نظر کې ونيسئ. د شکلونو له مخې لاندې پوښتنو ته ځواب وواياست:

الف: آيا يو مستقيم خط او يوه شعاع يوله بله توپير لري؟

ب: يوه شعاع او يو قطعه خط يو له بله څه توپير لري؟

ج: يو قطعه خط او يو مستقيم خط يو له بله څه توپيرلري؟

۲- په لاندې شکل کې څومستقيم خطونه، او څو قطعه خطونه دي؟




**کورنی دنده**

په لاندې شکل کې څو قطعه خطونه ليدلی شئ؟ د دوو نقطو په واسطه يې وښاياست.



# اته ویشتم لوست: د خط ډولونه

هدف: زده کوونکي مستقیم ، منکسر ، او منحني خطونه وپیژني او هم یو له بله توپیر وکړای شي.

## فعالیت

د چو کاټ شکلونو نومونه ولولی او په خپلو کتابچو کې رسم کړی.




لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایاست.

الف: له لاندې شکلونو څخه کوم یو یې منکسر خط دی او کوم یې منکسر خط نه دی؟



ب: ستاسو د مېز یوه څنډه یا د کتاب یوه څنډه مستقیم خط دی او که منحني خط؟





ج: دا دوه شکلونه د ا ◆——◆ ب او ←——→ یو له بله څه توپیر لري؟

د: که چیرې یو تار د خپل دوارو لاسونو په واسطه ښه کش کړئ کوم خط ښيي؟ که چیرې کش یې نکړئ او خپل لاسونه سره نژدې کړئ کوم خط ښيي؟

هـ : په خپل ټولګي کې د څوشيانو نومونه واخلئ چې دمنکسر خط او منحني خط شکلونه ولري.



و: لاندې شکلونه په نظر کې ونیسئ. هر یو شکل په خپلو کتابچو کې رسم او نومونه یې ولیکئ.




کورنۍ دنده

د خپل ژوند په چاپیریال کې د هغو شیانو او شکلونو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ چې د منکسر، منحني او مستقیم خطونو شکل ولري.

# نهه ویشتم لوست: د زاویو ډولونه

**هدف:** زده کوونکي زاویه او دهغې ډولونه وپېژني.

## فعالیت

تاسو له پخوا د لاندې شکلونو سره پېژند ګلوي لرئ.




اوس غواړو چې قایمه زاویه په عملي توګه له کاغذ څخه جوړه کړو او له هغې څخه په کار اخېستنې سره نورې زاویې یې وپیژنو.

ګرانو زده‌کوونکو! تاسو هر یو یوه ټوټه کاغذ په لاس کې ونیسئ.

الف: هغه قات کړئ.

ب: قات شوی کاغذ په یو بل باندې داسې قات کړئ چې د قات شوي کاغذ څنډې په یو بل باندې منطبق راشي.

ج: قات شوی کاغذ کنج یوه قایمه زاویه جوړوي.

د: قات شوی کنج د کاغذ په مخ باندې کښېږدئ او زاویه رسم کړئ.

هـ: خپله رسم کړې زاویې ته پاملرنه وکړئ وواياست چې د لاندې کومې یوې زاویې سره برابره ده؟ او وواياست له کومې یوې زاویې څخه لویه او له کومې یوې زاویې څخه کوچنۍ ده؟




په پورته شکلونو کې به ووینئ چې ستاسو جوړه کړې زاویه د قایمې زاویې سره برابره ده. او حاده زاویه له هغې څخه کوچنۍ او منفرجه زاویه له هغې څخه لویه ده.

**کورنی دنده**

زده کوونکي دې د کاغذ له یوې ټوټې څخه قایمه زاویه جوړه کړي او ټولګي ته دې راوړي.



**پوښتنې:**

۱- د خپلې جوړې کړې قايمې زاويې په کارولو سره لاندې شکلونه په خپلو کتابچو کې رسم او د هغو له زاويو سره پر تله کړئ وواياست.
هر يو شکل څو زاويې لري او د هر شکل نوم وليکئ.



له پرتله کولو وروسته به تاسو ووينئ چې مربع د څلورو قايمو زاويو لرونکې او مستطيل هم څلور قايمې زاويې لري اوس وواياست چې د هغو تر منځ توپير څه شی دی؟

۲- د خپلې قايمې جوړې کړې زاويې څخه کار واخلئ، حاده، قايمه او منفرجه زاويې په لاندې شکلونو کې وښياست.



۳- د خپلې قايمې جوړې کړې زاويې څخه په کار اخستنې سره دلاندې شکلونو زاويې اندازه کړئ او ووایاست چې په هر شکل کې څو قایمې زاويې ليدل کيږي او دهغو حاده او منفرجه زاويې وښياست.




۴- په لاندې هريو شکل کې څو حاده زاويې څو منفرجه زاويې او څو قايمه زاويې ليدل کيږي.




کورنی دنده

د خپل ټولګي او کورځينو اسبابونو ته ښه ځير شئ، د (حاده، قايمه او منفرجه) زاويې چې مو په نظر راځي وليکئ.

# دېرشم لوست: خلاص او تړلي شکلونه

**هدف:** زده کوونکي خلاص او تړلي شکلونه وپېژني یو له بله سره يې توپير او تشخيص کړي.

## فعالیت

**پاملرنه وکړئ:**

دا  یو خلاص شکل دی او دا  یو تړلی شکل دی. دا 
یوه خلاصه منحني او دا  یوه تړلې منحني ده.

۱- په لاندې شکلونو کې د هغو کوم یو شکل خلاص او کوم یو یې تړلی دی و یې ښیاست؟



۲- په لاندې شکلونو کې کوم یو یې خلاص او کوم یو یې تړلی شکل دی؟



**کورنی دنده**

په خپله خوښه یو خلاص شکل او یو تړلی شکل رسم کړئ.

۳- الف: آیا مثلث یو خلاص شکل دی او که تړلی؟

ب: آیا مربع یو خلاص شکل دی او که تړلی؟

ج: آیا مستطیل یو خلاص شکل دی او که تړلی؟

د: آیا دایره یوه خلاصه منحني ده او که تړلې؟

۴- د لاندې شکلونو څخه کوم یو یې تړلي او کوم یو یې خلاص دي؟



۵- هغه خلاص او تړلي شکلونه چې په خپل ټولګي کې وینئ وښیاست.

۶- د دریو قطعه خطونو او څلورو قطعه خطونو په واسطه خلاص او تړلي شکلونه رسم کړئ.

### کورنۍ دنده

په خپله خوښه یو خلاص او یو تړلي شکل په خپلو کتابچو کې رسم او له ځانو سره یې راوړئ.

# یو دیرشم لوست: د اوږدوالي اټکلي او دقیق اندازه کول

هدف: د زده کوونکي په اټکلي اندازه کولو کې پیاوړتیا پیدا کړي چې څومره حقیقت ته نژدې دي.

لومړی د لاندې هر یوه قطعه خط اندازه تخمین کړئ او بیا د هر یوه اوږدوالی دخط کش په واسطه اندازه کړئ او په غور سره وګورئ چې ستاسو تخمین واقعیت ته تر کومه حده نژدې دی؟

د درکړل شوو قطعه خطونو د اټکلی او دقیق اندازه کولو وروسته مخامخ جدول بشپړ کړئ.




| دقیق اندازه | اټکلی اندازه | ټوټه خطونه |
|---|---|---|
| | | الف ب |
| | | د ج |
| | | ن م |
| | | هـ و |
| | | ك ل |
| | | ز ر |

**کورنی دنده**

زده کوونکي دي د پورتنیو قطعه خطونو اوږدوالی په نظر کې ونیسي.
له اوږده قطعه خط څخه دي د لنډ قطعه خط خواته ترتیب او ولیکي.

## مشق او تمرين

لاندې جدول ته پاملرنه وکړئ هر ګروپ دې د لاندې جدول په ډول يو جدول رسم کړي، د ګروپونو د يوه، يوه زده کوونکي قد دې په ترتيب سره د مثال په توګه لومړی اټکل او وروسته دې په دقيقه توګه اندازه کړي.

| د هر ګروپ د زده کوونکو نومونه | د قد اندازه | |
|---|---|---|
| | اټکلی | دقيق |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |

هر ګروپ دې د اړوند جدول د بشپړولو وروسته په خپله د ګروپ زده کوونکي پرتله کړي چې د کوم يوه زده کوونکي اټکل حقيقت ته ډېر نږدې دی. او هغه دې يادداشت کړي او بيا دې لومړی تن د هر ګروپ سره پرتله شي په ګروپونو کې دې لومړی، دويم او دريم معلوم کړي او ممتاز زده کوونکي دې پيدا کړي.

## کورنۍ دنده

هر زده کوونکی دې د خپل د کور د يوې کوټې پراخوالی د خپل قدمونو په واسطه اټکل او بيا دې په دقيقه توګه د متر په واسطه اندازه کړي. توپير دې وليکی.

# دوه دېرشم لوست: د مربع، مستطيل او مثلث د محيط پيدا کول

هدف: زده کوونکي د مربع، مثلث او مستطيل محيط اندازه کړای شي

لاندې شکل ته پاملرنه وکړئ:




پورته شکل يو تړلی شکل دی که چيرې د (۱) له نقطې څخه وخوځيږو او د هغه په ټولو ضلعو باندې په ترتيب سره ولاړ شو او بيا د (۱) نقطې ته راوګرځو په حقيقت کې د مستطيل ټولو ضلعو فاصله مو وهلې ده چې دا د مستطيل محيط بلل کيږي.

څرنګه چې د مستطيل مخامخ ضلعې يو له بله سره مساوي دي. نو د نوموړي مستطيل د ضلعو مجموعه ۱۲ سانتي متر=۲+۴+۲+۴ کيږي.

په دې صورت کې د راکړل شوي مستطيل محيط ۱۲ سانتي متره دی. څرنګه چې مربع هم ۴ مساوي ضلعې لري نو د مربع د څلورو واړو ضلعو داوږدوالو مجموعه د هغې محيط بلل کيږي او همدارنګه د مثلث د درې واړو ضلعو داوږدوالو مجموعه د هغه د محيط څخه عبارت ده.

**فعالیت:**

په لاندې مستطیل کې د دوو ضلعو اوږدوالی درکړل شوی دی، د دوو نورو ضلعو اوږدوالی اندازه کړئ او محیط یې په لاس راوړئ.




**پوښتنې:**

۱- که چیرې د یوې مربع هره ضلعه ۱۲ سانتي متره وي د نوموړې مربع محیط پیدا کړئ.

۲- که چیرې د یوه تولګي اوږدوالی ۸ متره او سوریې ۴ متره وي محیط یې پیدا کړئ.

۳- د یوې مربع محیط چې د هرې ضلعې اوږدوالی یې ۴ سانتي متره دی د هغه مستطیل له محیط سره یې پرتله کړئ چې اوږدوالی یې ۶ سانتي متره او سور یې ۲ سانتي متره وي؟

۴- که چیرې د یوه مستطیل شکله بڼ اوږدوالی ۳۵۰ متره او سور یې ۲۳۰ متره وي څو متره اغزن سیم ته اړتیا ده تر څو د بڼ محیط وتړي.

۵- د یوې کوټې د فرش محیط پیدا کړئ چې اوږدوالی یې ۴ متره او سور یې ۳ متره وي

**کورنۍ دنده**

د کاغذ له یوې پاڼې څخه یو مستطیل پریکړئ چې اوږدوالي یې ۷ سانتي متره او سور یې ۳ سانتي متره وي د نوموړي مستطیل محیط حساب کړي.

۱- په لاندي شکل کې څو مستطیلونه او څو مثلثونه دي د هرې ضلعې اوږدوالی اندازه کړئ محیطونه یې معلوم کړئ.



۲- په لاندي شکل کې د (ز) او (ح) نقطې او همدارنګه د (هـ) او (و) نقطې یو له بل سره ونښلوئ.




الف: څو مستطیلونه او څو مربع ګانې لیدلای شئ؟

ب : د هرې یوې مربع محیط معلوم کړئ؟

ج : د هر یوه مستطیل محیط معلوم کړئ.




که چیرې د یوه مثلث اضلاع په ترتیب سره ۷،۳ او ۵ سانتي متره وي محیط یې پیدا کړئ.

# نهم فصل
# د کتلې، وخت او مایعاتو اندازه کول

## دري دیرشم لوست: د کتلې د اندازه کولو واحد (کیلوګرام)

هدف: زده کوونکي د کتلې د اندازه کولو بین المللی واحد وپیژني او په ورځني ژوند کې ورڅخه کار واخستلی شي.

د تلې شکل ته چې د هغې په پلو کې مڼې او د کیلوګرام وزنونه ایښودل شوي دي پاملرنه وکړئ.




**کیلوګرام**: د دې له پاره چې د کتله لرونکو شیانو پلورل را نیول په ځیر تیا سره وشي. له هغو وزنونو څخه کار اخیستل کیږي. چې د تولو د پاره پیژندل شوي دي. د دې وزنونو ډېر نامتو وزن ۱ کیلو ګرام دی. چې په مخامخ شکلونو کې یې ښه لیدلی شئ.




د ۱ کیلو ګرام څخه زیات وزنونه یعنې ۲ کیلوګرامه، ۵ کیلوګرامه، ۱۰ کیلوګرامه او ۲۰ کیلوګرامه دي هم د کار اخیستلو وړ دي او کار ورڅخه اخلي. د ډېرو کوچنیو شیانو داندازه کولو د پاره د کوچنیو وزنونو څخه چې هغه هم پیژندل شوي دي کار اخیستل کیږي.

لاندې شکلونو ته پاملرنه وکړئ. ډېر درانه او ډېر سپک وزنونه په ترتیب سره په خپلو کتابچو کې ولیکئ.




زده کوونکي: ښاغلی ښوونکی! گرام څه شی دی؟

ښوونکی: ۱ گرام په تقریبي ډول د ۱۰ عدسو (نسکو) په اندازه دی.

زده کوونکی: ښاغلی ښوونکی! نو ۱ کیلو گرام څو گرامه دی؟

ښوونکی: گرانو زده‌کوونکو! باید پوه شئ چې ۱ کیلو گرام مساوي له ۱۰۰۰ گرامه سره کیږي.



## مشق او تمرين

۱- که چېري د ۱ کيلو ګرام وزن ونه لرئ څرنګه کولی شئ د نورو وزنونوپه کارولو سره يو کيلو ګرام منې اندازه کړئ؟

۲- د <، = او > نښو څخه کار واخلئ تش ځايونه په مناسبو نښو سره ډك کړئ؟

| | | |
|---|---|---|
| ۵ کيلو ګرامه | ☐ | ۵۰۰۰ ګرامه |
| ۵۰۰۰ ګرامه | ☐ | ۱۰۰ ګرامه+ ۲۰۰ ګرامه+۴۰۰ ګرامه |
| يو ۵۰ ګرامه او دري ۲۰ ګرامه | ☐ | ۱۰۰ ګرامه |
| ۵۰۰ ګرامه | ☐ | نيم کيلو ګرام |
| ۵۰۰ ګرامه | ☐ | دوه ۲۰۰، ګرامه ، يوه ۵۰ ګرامه او دوه ۲۰ ګرامه |
| ۷ کيلو ګرامه کچالو | ☐ | ۷۰۰۰ ګرامه يوه بوجی پنبه |

۳- يو هټۍ وال د تلې په يوه پله کې د ۵ کيلو ګرامو يو وزن او په بله کې يې يوه دانه هندوانه کېښودله ويې ليدل چې هندوانه سپکه ده. نو کله چې د تلې په بله پله کې يې د ۱ کيلو ګرام وزن کېښود تلې د تعادل حالت ونيو وواياست چې د هندوانې درونداوالی څومره دی؟



## کورنی دنده

زده کوونکي دې له ډبيو څخه تله جوړه کړي او تولګي ته دې راوړي.






**زده کوونکی:** ښاغلی ښوونکی! ډېر درانده شیان د څه شي په واسطه اندازه کوي؟

**ښوونکی:** ګرانو زده‌کوونکو ډېر زیات درانده شیان لکه بار لرونکي موټرونه او نور د ټن په واسطه اندازه کوي.

**زده کوونکی:** ښاغلی ښوونکی! ټن څه شی دی؟

**ښوونکی:** یو کیلو ګرام مو وپېژندو باید پوه شئ چې ۱۰۰۰ کیلو ګرامه یو ټن کیږي.

**۱۰۰۰ کیلو ګرامه = ۱ ټُن**

**۲۰۰۰ کیلو ګرامه = ۲×۱۰۰۰ = ۲ ټُن**

**کورنۍ دنده**

که چیرې یو موټر د بار سره ۲۰ ټن وزن ولري او د موټر وزن ۵ ټنه وي د موټر د بار وزن پیدا کړئ.

# دوخت اندازه کولو واحد (ساعت)

هدف:

۱- زده کوونکي ساعت (گړۍ) د وخت د واحد په توګه وپیژني.



## د ساعت پیژندنه

که چیرې کوم وخت موساعت لیدلی وي د ساعت دایره وي صفحه یا ابره په ۱۲ مساوي برخو ویشل شوې ده چې دووه پرله پسې رقمونو ترمنځ اړوندواټن یو ساعت راښیي کله چې د ساعت ښوونکی عقربه دووپرله پسې رقمونو ترمنځ واټن ووهي یو ساعت را ښیي، چې ددې وخت په اوږدوالي کي د دقیقې ښودونکې عقربه دساعت د ابرې بشپړه دوره وهي، دیوه ساعت دوخت او ږدوالي په ٦۰ مساوي برخو ویشلې ده چې هرې برخې ته دقیقه ویل کیږي او همدارنګه دهر دوو پرله پسې رقمونو ترمنځ واټن په پنځو مساوي برخو ویشل شوې ده چې هره برخه، یې یوه دقیقه را ښیي.



زده کوونکی دې لاندې پوښتنو ته ځواب ووایي.

د کارك یا کاغذ په یوې توټې باندې دګیلاس یا پیالې په مرسته یوه دایره رسم کړئ ددې دایرې محیط په ۱۲ مساوي برخو وویشئ هره برخه په مسلسله توګه د ارقامو په واسطه، له (۱) څخه تر (۱۲) پورې وښیاست دوه عقربې چې اوږدوالی یې یو له بله سره توپیرولري جوړې کړئ بیا دا عقربې ددایرې په مرکزکې د یوه سنجاق یا ستنې په واسطه ونښلوئ چې په حقیقت کې د یوه ساعت مودل مو بشپړکړی دی او د هغه په واسطه لاندې مختلف وختونه وښیاست.

الف-٦بجې، ب- ٦ بجې او ۵ دقیقې، ج- ۷ بجې او ۱۵ دقیقې د-۴ بجې او ۳۰ دقیقې، هـ-آیا ویلای شئ چې ستاسو ښوونځی په څو بجو پیل کیږي

# څلور دېرشم لوست: د ساعت په واسطه دوخت ښودل

**هدف**: زده کوونکي ساعت وپيژني، د ساعت ښودونکی، دقيقه ښودونکی او ثانيه ښودونکی په موقعيت سره وخت تشخيص او ولوستلای شي.




د ساعت په يوه مخ باندې چې په عمومي توګه دايره وي شکل لري ۱۲ عددونه په معلومو ځايونو کې وينئ، د هرو دوارو عددونو په منځ کې ۵ واړه خطونه يا نقطې دي کوم وخت چې ثانيه ښودونکی له يوه عدد څخه پيل وکړي او يوه بشپړه دوره ووهي دقيقه ښودونکی له يوې نقطې څخه بلې نقطې ته رسيږي، ويل کيږي چې يوه دقيقه تيره شوې ده. که چيرې دقيقه ښودونکی له يوه عدد څخه په حرکت پيل وکړي د يوې بشپړې دورې وهلو وروسته يعنې له ٦٠ نقطو يا خطونو څخه تير شي چې په حقيقت کې ٦٠ دقيقې يا يو ساعت تير شوی دی په دې صورت کې د ساعت ښودونکی عقربه له يوه عدد څخه بل عدد ته رسيږي نو په دې صورت کې ليکلی شو چې:

٦٠ دقيقې = ۱ ساعت

٦٠ ثانيې = ۱ دقيقه







الف ب

که چیرې د الف شکل ګړۍ ته پاملرنه وکړئ لیدل کیږي چې دقیقه ښودونکی د ۱۲ د عدد مخامخ او ګړۍ ښودونکی د ۴ د عدد په مقابل کې قرار لري داسې لوستل کیږي چې ګړۍ ۴ بجې دي. او یا داسې ۴:۰۰.

اوس که چیرې دقیقه ښودونکی له ۱۲ څخه حرکت وکړي لکه د (ب) شکل د ۳ د عدد په مقابل کې قرار ونیسي د ګړۍ ښودونکی ځای هم د ۴ رقم څخه بدلون کوي په دې حالت کې ګړۍ داسې لوستل کیږي له څلورو څخه پنځلس دقیقې تیرې دي یا ۴:۱۵ یا پنځلس د پاسه ۴ بجې دي.



**فعالیت:**

۱. لاندې شکلونو ته ځیر شئ، وختونه لکه د ښې خوا د ساعت وختونه په دوو طریقو سره په خپلو کتابچو کې ولیکئ.









۳:۴۵

۱۵ پاتې ۴ ته

او یا ۱۵ کم ۴ بجې دي



**پوښتنې:**

۱- مخامخ شکل په خپلو کتابچو کې رسم کړئ.



واياست نومورې ساعت کوم وخت ښيي؟

۲- وواياست هر يو ساعت کوم وخت ښيي، ساعتونه په پام کې ونيسئ د هر ساعت وخت په خپلو کتابچو کې وليکئ.



الف





ب





ج



**کورنۍ دنده**

د ساعتونو ، دقيقو، ثانيو د ښودنکو په پام کې نيولو سره وختونه په خپلو کتابچو کې وليکئ.



د





هـ





و



# مشق او تمرین






۱. پورتنی هر یو شکل کوم وخت رانبیي؟

۲. یو له بله څه توپیر لري؟

۳. ساعت ښوونکی او دقیقه ښوونکی یو له بله څه توپیر لري؟

۴. د ساعت مخ په څو مساوي برخو ویشل شوی دی؟

۵. که چیرې د ساعت ښوونکي عقربه د ۳ د عدد مخامخ او دقیقه ښوونکی عقربه د ۲ د عدد مخامخ وي. کوم وخت رانبیي؟

۶. په ساعت کې د ۲ او ۳ دوو عددونو تر منځ څو دقیقې دي؟





### فعالیت:

لاندې ساعتونه د نمونې په توګه درکړل شوي دي هغو ته ځير شئ.

د هغو د هر يوه تر لاندې تش ځای شته. اړوند وخت يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.







د پورته ساعتونو رسمونو ته پاملرنه وکړئ او ځوابونه يې ووایاست.

الف: درې واړه ساعتونه يو له بله څه توپير لري؟

ب: که چيرې دقيقه ښودونکی د ۱۲ له عـدد څخـه د ۲ عددته ورسـيږي نوموړي ساعتونه کوم وخت ښيي؟

ج: که چيرې دقيقه ښودونکی له ۱۲ څخه حرکت وکـړي او د ٦ عـدد تـه ورسيږي په پورتنيو شکلونو کې ساعتونه څو بجې راښيي.

د: که چيرې دقيقه ښودونکی د ۱۲ له عدد څخه حرکـت وکـړي او يـوه بشپړه دوره ووهي او بيا د ۱۲ عدد ته را ورسيږي هر يو ساعت کـوم وخت راښيي؟





## پوښتنې:

لاندې عبارتونه بشپړ کړئ د ساعتونو عقربې په خپلو کتاپچو کې رسم کړئ.



۱. زه له خوبه په.............................. بجو ویښیږم.



۲. زموږ ښوونځی په........................ بجو پیل کیږي.



۳. زه د غرمې ډوډی په...................... بجو خورم.



۴. زه په........................بجو کورنی دنده سرته رسوم.



۵. زه په........................ بجو له ښوونځي څخه رخصت کیږم.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د یوه ساعت مودل له کاغذ څخه قیچي کړي او د مازیګر د لمانځه وخت دې په هغه کې وښیي.

# پنځه دېرشم لوست: ورځ، اونۍ ، میاشتې او کال

هدف: زده کوونکي وکړای شي، ورځ اونۍ، میاشت او کال وپېژني.



۲۴ ساعته = یوه شپه او ورځ

۷ شپې او ورځې = یوه اونۍ

۴ (اونۍ) = یوه میاشت

۳۰ شپې او ورځې = یوه میاشت

۱۲ میاشتې = یو کال

۳۶۵ شپې او ورځې = یو کال

۴ فصله = یو کال



لاندې تش ځایونه د حل شوي مثال په توګه په مناسبو عددونو سره ډک کړئ!

مثال:

یوه میاشت ___۳۰___ شپې او ورځې ده.

یو کال ______ شپې او ورځې دی.

یوه اونۍ ______ شپې او ورځې ده.

یوه میاشت ______ اونۍ ده.

یو کال ______ میاشتې دي.

# شپږ دېرشم لوست: د جنترۍ پېژندنه

**هدف:** زده کوونکي جنتري وپېژني او د هغې څخه کار واخستلی شي.

## حمل - وری ۱۳۸۵

March / April 2006 — صفرالمظفر / ربیع الاول ۱۴۲۷

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴ ۲۳ 24 | ۳ ۲۲ 23 | ۲ ۲۱ 22 | ۱ ۲۰ 21 | | | |
| ۱۱ ربیع الاول 31 | ۱۰ ۲۹ 30 | ۹ ۲۸ 29 | ۸ ۲۷ 28 | ۷ ۲۶ 27 | ۶ ۲۵ 26 | ۵ ۲۴ 25 |
| ۱۸ ۸ 7 | ۱۷ ۷ 6 | ۱۶ ۶ 5 | ۱۵ ۵ 4 | ۱۴ ۴ 3 | ۱۳ ۳ 2 | ۱۲ ۲ April |
| ۲۵ ۱۵ 14 | ۲۴ ۱۴ 13 | ۲۳ ۱۳ 12 | ۲۲ ۱۲ 11 | ۲۱ ۱۱ 10 | ۲۰ ۱۰ 9 | ۱۹ ۹ 8 |
| | ۳۱ ۲۱ 20 | ۳۰ ۲۰ 19 | ۲۹ ۱۹ 18 | ۲۸ ۱۸ 17 | ۲۷ ۱۷ 16 | ۲۶ ۱۶ 15 |

## ثور - غویی ۱۳۸۵

April / May 2006 — ربیع الاول / ربیع الاخر ۱۴۲۷

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ ۲۲ 21 | | | | | ۳۱ ۲۲ 21 | ۳۰ ۲۱ 20 |
| ۸ ۲۹ 28 | ۷ ۲۸ 27 | ۶ ۲۷ 26 | ۵ ۲۶ 25 | ۴ ۲۵ 24 | ۳ ۲۴ 23 | ۲ ۲۳ 22 |
| ۱۵ ۶ 5 | ۱۴ ۵ 4 | ۱۳ ۴ 3 | ۱۲ ۳ 2 | ۱۱ ۲ May | ۱۰ ربیع الاخر 30 | ۹ ۳۰ 29 |
| ۲۲ ۱۳ 12 | ۲۱ ۱۲ 11 | ۲۰ ۱۱ 10 | ۱۹ ۱۰ 9 | ۱۸ ۹ 8 | ۱۷ ۸ 7 | ۱۶ ۷ 6 |
| ۲۹ ۲۰ 19 | ۲۸ ۱۹ 18 | ۲۷ ۱۸ 17 | ۲۶ ۱۷ 16 | ۲۵ ۱۶ 15 | ۲۴ ۱۵ 14 | ۲۳ ۱۴ 13 |

## جوزا - غبرگولی ۱۳۸۵

May / June 2006 — ربیع الاخر / جمادی الاول ۱۴۲۷

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵ ۲۷ 26 | ۴ ۲۶ 25 | ۳ ۲۵ 24 | ۲ ۲۴ 23 | ۱ ۲۳ 22 | | |
| ۱۲ ۵ 2 | ۱۱ ۴ June | ۱۰ ۳ 31 | ۹ ۲ 30 | ۸ جمادی الاول 29 | ۷ ۲۹ 28 | ۶ ۲۸ 27 |
| ۱۹ ۱۲ 9 | ۱۸ ۱۱ 8 | ۱۷ ۱۰ 7 | ۱۶ ۹ 6 | ۱۵ ۸ 5 | ۱۴ ۷ 4 | ۱۳ ۶ 3 |
| ۲۶ ۱۹ 16 | ۲۵ ۱۸ 15 | ۲۴ ۱۷ 14 | ۲۳ ۱۶ 13 | ۲۲ ۱۵ 12 | ۲۱ ۱۴ 11 | ۲۰ ۱۳ 10 |
| | | ۳۱ ۲۴ 21 | ۳۰ ۲۳ 20 | ۲۹ ۲۲ 19 | ۲۸ ۲۱ 18 | ۲۷ ۲۰ 17 |

## سرطان - چنگاښ ۱۳۸۵

June / July 2006 — جمادی الاول / جمادی الاخر ۱۴۲۷

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ ۲۶ 23 | ۱ ۲۵ 22 | | | | | ۳۱ ۲۵ 22 |
| ۹ ۳ 30 | ۸ ۲ 29 | ۷ 28 | ۶ ۳۰ 27 | ۵ ۲۹ 26 | ۴ ۲۸ 25 | ۳ ۲۷ 24 |
| ۱۶ ۱۰ 7 | ۱۵ ۹ 6 | ۱۴ ۸ 5 | ۱۳ ۷ 4 | ۱۲ ۶ 3 | ۱۱ ۵ 2 | ۱۰ ۴ July |
| ۲۳ ۱۷ 14 | ۲۲ ۱۶ 13 | ۲۱ ۱۵ 12 | ۲۰ ۱۴ 11 | ۱۹ ۱۳ 10 | ۱۸ ۱۲ 9 | ۱۷ ۱۱ 8 |
| ۳۰ ۲۴ 21 | ۲۹ ۲۳ 20 | ۲۸ ۲۲ 19 | ۲۷ ۲۱ 18 | ۲۶ ۲۰ 17 | ۲۵ ۱۹ 16 | ۲۴ ۱۸ 15 |

## اسد - زمری ۱۳۸۵

July / August 2006 — جمادی الاخر / رجب المرجب ۱۴۲۷

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶ ۲ 28 | ۵ رجب المرجب 27 | ۴ ۲۹ 26 | ۳ ۲۸ 25 | ۲ ۲۷ 24 | ۱ ۲۶ 23 | |
| ۱۳ ۹ 4 | ۱۲ ۸ 3 | ۱۱ ۷ 2 | ۱۰ ۶ August | ۹ ۵ 31 | ۸ ۴ 30 | ۷ ۳ 29 |
| ۲۰ ۱۶ 11 | ۱۹ ۱۵ 10 | ۱۸ ۱۴ 9 | ۱۷ ۱۳ 8 | ۱۶ ۱۲ 7 | ۱۵ ۱۱ 6 | ۱۴ ۱۰ 5 |
| ۲۷ ۲۳ 18 | ۲۶ ۲۲ 17 | ۲۵ ۲۱ 16 | ۲۴ ۲۰ 15 | ۲۳ ۱۹ 14 | ۲۲ ۱۸ 13 | ۲۱ ۱۷ 12 |
| | | | ۳۱ ۲۷ 22 | ۳۰ ۲۶ 21 | ۲۹ ۲۵ 20 | ۲۸ ۲۴ 19 |

## سنبله - وږی ۱۳۸۵

August / September 2006 — رجب المرجب / شعبان المعظم ۱۴۲۷

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ ۳۰ 25 | ۲ ۲۹ 24 | ۱ ۲۸ 23 | | | | |
| ۱۰ ۷ September | ۹ ۶ 31 | ۸ ۵ 30 | ۷ ۴ 29 | ۶ ۳ 28 | ۵ ۲ 27 | ۴ 26 |
| ۱۷ ۱۴ 8 | ۱۶ ۱۳ 7 | ۱۵ ۱۲ 6 | ۱۴ ۱۱ 5 | ۱۳ ۱۰ 4 | ۱۲ ۹ 3 | ۱۱ ۸ 2 |
| ۲۴ ۲۱ 15 | ۲۳ ۲۰ 14 | ۲۲ ۱۹ 13 | ۲۱ ۱۸ 12 | ۲۰ ۱۷ 11 | ۱۹ ۱۶ 10 | ۱۸ ۱۵ 9 |
| ۳۱ ۲۸ 22 | ۳۰ ۲۷ 21 | ۲۹ ۲۶ 20 | ۲۸ ۲۵ 19 | ۲۷ ۲۴ 18 | ۲۶ ۲۳ 17 | ۲۵ ۲۲ 16 |

۱- د حمل میاشت پیدا کړئ. په حمل کې ۱۷ نېټه د حمل په کومه ورځ راځي؟

۲- د سرطان میاشت کومه ده؟ د سرطان ۱۱ نېټه په کومه ورځ راځي.

۳- نورې میاشتې هم په دغه ډول تر کار لاندې ونیسئ!

## میزان - تله ۱۳۸۵

September / October 2006 — شعبان المعظم ۱۴۲۷ / رمضان المبارک

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷ / ۶ / 29 | ۶ / ۵ / 28 | ۵ / ۴ / 27 | ۴ / ۳ / 26 | ۳ / ۲ / 25 | ۲ / رمضان المبارک / 24 | ۱ / ۲۹ / 23 |
| ۱۴ / ۱۳ / 6 | ۱۳ / ۱۲ / 5 | ۱۲ / ۱۱ / 4 | ۱۱ / ۱۰ / 3 | ۱۰ / ۹ / 2 | ۹ / ۸ / October | ۸ / ۷ / 30 |
| ۲۱ / ۲۰ / 13 | ۲۰ / ۱۹ / 12 | ۱۹ / ۱۸ / 11 | ۱۸ / ۱۷ / 10 | ۱۷ / ۱۶ / 9 | ۱۶ / ۱۵ / 8 | ۱۵ / ۱۴ / 7 |
| ۲۸ / ۲۷ / 20 | ۲۷ / ۲۶ / 19 | ۲۶ / ۲۵ / 18 | ۲۵ / ۲۴ / 17 | ۲۴ / ۲۳ / 16 | ۲۳ / ۲۲ / 15 | ۲۲ / ۲۱ / 14 |
| | | | | | ۳۰ / ۲۹ / 22 | ۲۹ / ۲۸ / 21 |

## عقرب - لړم ۱۳۸۵

October / November 2006 — رمضان المبارک ۱۴۲۷ / شوال المکرم

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵ / ۴ / 27 | ۴ / ۳ / 26 | ۳ / ۲ / 25 | ۲ / شوال المکرم / 24 | ۱ / ۳۰ / 23 | | |
| ۱۲ / ۱۱ / 3 | ۱۱ / ۱۰ / 2 | ۱۰ / ۹ / November | ۹ / ۸ / 31 | ۸ / ۷ / 30 | ۷ / ۶ / 29 | ۶ / ۵ / 28 |
| ۱۹ / ۱۸ / 10 | ۱۸ / ۱۷ / 9 | ۱۷ / ۱۶ / 8 | ۱۶ / ۱۵ / 7 | ۱۵ / ۱۴ / 6 | ۱۴ / ۱۳ / 5 | ۱۳ / ۱۲ / 4 |
| ۲۶ / ۲۵ / 17 | ۲۵ / ۲۴ / 16 | ۲۴ / ۲۳ / 15 | ۲۳ / ۲۲ / 14 | ۲۲ / ۲۱ / 13 | ۲۱ / ۲۰ / 12 | ۲۰ / ۱۹ / 11 |
| | | | ۳۰ / ۲۹ / 21 | ۲۹ / ۲۸ / 20 | ۲۸ / ۲۷ / 19 | ۲۷ / ۲۶ / 18 |

## قوس - لیندی ۱۳۸۵

November / December 2006 — ذیقعده الحرام ۱۴۲۷

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ / ۳ / 24 | ۲ / ۲ / 23 | ۱ / ذیقعده الحرام / 22 | | | | |
| ۱۰ / ۱۰ / December | ۹ / ۹ / 30 | ۸ / ۸ / 29 | ۷ / ۷ / 28 | ۶ / ۶ / 27 | ۵ / ۵ / 26 | ۴ / ۴ / 25 |
| ۱۷ / ۱۷ / 8 | ۱۶ / ۱۶ / 7 | ۱۵ / ۱۵ / 6 | ۱۴ / ۱۴ / 5 | ۱۳ / ۱۳ / 4 | ۱۲ / ۱۲ / 3 | ۱۱ / ۱۱ / 2 |
| ۲۴ / ۲۴ / 15 | ۲۳ / ۲۳ / 14 | ۲۲ / ۲۲ / 13 | ۲۱ / ۲۱ / 12 | ۲۰ / ۲۰ / 11 | ۱۹ / ۱۹ / 10 | ۱۸ / ۱۸ / 9 |
| | ۳۰ / ۳۰ / 21 | ۲۹ / ۲۹ / 20 | ۲۸ / ۲۸ / 19 | ۲۷ / ۲۷ / 18 | ۲۶ / ۲۶ / 17 | ۲۵ / ۲۵ / 16 |

## جدی - مرغومی ۱۳۸۵

December 2006 / January 2007 — ذیحجه الحرام ۱۴۲۷ / محرم الحرام ۱۴۲۸

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ / ذیحجه الحرام / 22 | | | | | | ۳۰ / محرم الحرام / 20 |
| ۸ / ۸ / 29 | ۷ / ۷ / 28 | ۶ / ۶ / 27 | ۵ / ۵ / 26 | ۴ / ۴ / 25 | ۳ / ۳ / 24 | ۲ / ۲ / 23 |
| ۱۵ / ۱۵ / 5 | ۱۴ / ۱۴ / 4 | ۱۳ / ۱۳ / 3 | ۱۲ / ۱۲ / 2 | ۱۱ / ۱۱ / January | ۱۰ / ۱۰ / 31 | ۹ / ۹ / 30 |
| ۲۲ / ۲۲ / 12 | ۲۱ / ۲۱ / 11 | ۲۰ / ۲۰ / 10 | ۱۹ / ۱۹ / 9 | ۱۸ / ۱۸ / 8 | ۱۷ / ۱۷ / 7 | ۱۶ / ۱۶ / 6 |
| ۲۹ / ۲۹ / 19 | ۲۸ / ۲۸ / 18 | ۲۷ / ۲۷ / 17 | ۲۶ / ۲۶ / 16 | ۲۵ / ۲۵ / 15 | ۲۴ / ۲۴ / 14 | ۲۳ / ۲۳ / 13 |

## دلو - سلواغه ۱۳۸۵

January / February 2007 — محرم الحرام ۱۴۲۸ / صفرالمظفر

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶ / ۷ / 26 | ۵ / ۶ / 25 | ۴ / ۵ / 24 | ۳ / ۴ / 23 | ۲ / ۳ / 22 | ۱ / ۲ / 21 | |
| ۱۳ / ۱۴ / 2 | ۱۲ / ۱۳ / February | ۱۱ / ۱۲ / 31 | ۱۰ / ۱۱ / 30 | ۹ / ۱۰ / 29 | ۸ / ۹ / 28 | ۷ / ۸ / 27 |
| ۲۰ / ۲۱ / 9 | ۱۹ / ۲۰ / 8 | ۱۸ / ۱۹ / 7 | ۱۷ / ۱۸ / 6 | ۱۶ / ۱۷ / 5 | ۱۵ / ۱۶ / 4 | ۱۴ / ۱۵ / 3 |
| ۲۷ / ۲۸ / 16 | ۲۶ / ۲۷ / 15 | ۲۵ / ۲۶ / 14 | ۲۴ / ۲۵ / 13 | ۲۳ / ۲۴ / 12 | ۲۲ / ۲۳ / 11 | ۲۱ / ۲۲ / 10 |
| | | | | ۳۰ / صفرالمظفر / 19 | ۲۹ / ۳۰ / 18 | ۲۸ / ۲۹ / 17 |

## حوت - کب ۱۳۸۵

January / February 2007 — محرم الحرام ۱۴۲۸ / صفرالمظفر

| جمعه fri | پنجشنبه thu | چهارشنبه wed | سه شنبه tue | دوشنبه mon | یکشنبه sun | شنبه sat |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴ / ۵ / 23 | ۳ / ۴ / 22 | ۲ / ۳ / 21 | ۱ / ۲ / 20 | | | |
| ۱۱ / ۱۲ / 2 | ۱۰ / ۱۱ / March | ۹ / ۱۰ / 28 | ۸ / ۹ / 27 | ۷ / ۸ / 26 | ۶ / ۷ / 25 | ۵ / ۶ / 24 |
| ۱۸ / ۱۹ / 9 | ۱۷ / ۱۸ / 8 | ۱۶ / ۱۷ / 7 | ۱۵ / ۱۶ / 6 | ۱۴ / ۱۵ / 5 | ۱۳ / ۱۴ / 4 | ۱۲ / ۱۳ / 3 |
| ۲۵ / ۲۶ / 16 | ۲۴ / ۲۵ / 15 | ۲۳ / ۲۴ / 14 | ۲۲ / ۲۳ / 13 | ۲۱ / ۲۲ / 12 | ۲۰ / ۲۱ / 11 | ۱۹ / ۲۰ / 10 |
| | | | ۲۹ / ربیع الاول / 20 | ۲۸ / ۲۹ / 19 | ۲۷ / ۲۸ / 18 | ۲۶ / ۲۷ / 17 |



**پوښتنې:**

۱- د چنګاښ د میاشتې د ورځو تش ځایونه د جنترې له مخې ډك کړئ!

June July 2006 — **سرطان - چنګاښ ۱۳۸۵** — جمادی الاول جمادی الاخر ۱۴۲۷

| شنبه sat | یکشنبه sun | دوشنبه mon | سه شنبه tue | چهارشنبه wed | پنجشنبه thu | جمعه fri |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ ۲۵ 22 | | | | | ۱ ۲۵ 22 | ۲ ۲۶ 23 |
| ۳ ۲۷ 24 | ۴ ۲۸ 25 | | ۶ ۳۰ 27 | ۷ 28 | ۸ ۲ 29 | ۹ ۳ 30 |
| ۱۰ ۴ July | ۱۱ ۵ 2 | ۱۲ ۶ 3 | | | ۱۵ ۹ 6 | ۱۶ ۱۰ 7 |
| | | ۱۹ ۱۳ 10 | ۲۰ ۱۴ 11 | | ۲۲ ۱۶ 13 | ۲۳ ۱۷ 14 |
| ۲۴ ۱۸ 15 | | | ۲۷ ۲۱ 18 | ۲۸ ۲۲ 19 | | |

۲- د جنترې له مخې د کال کومې میاشتې ۳۱ ورځې دي؟

............ ............ ............ ............ ............ ............

۳- د کال کومې میاشتې ۳۰ ورځې دي؟

............ ............ ............ ............ ............ ............

۴- د کال کومې میاشتې ۲۹ ورځې دي؟

............ ............ ............ ............ ............ ............

۵- په جنترې کې د زمري د میاشتې ۲۸ نېټه د اونۍ له کومې ورځې سره سمون لري؟

............ ............ ............ ............ ............ ............

۶- د زمري د میاشتې د چهارشنبې په ورځ کوم کوم تاریخونه دي؟

۷- د اونۍ ورځې د جنتري له مخې ولیکئ!

۸- د کال د میاشتو نومونه په ترتیب سره د جنترۍ له مخې په خپلو کتابچو کې ولیکئ!



**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې هر یو د پلار او مور په مرسته د خپلو زیږیدلو، کال، میاشت او ورځ په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# اووه دېرشم لوست: د مایعاتو د اندازه کولو واحد (لیتر)

هدف: زده کوونکي پوه شي چې په ورځنی ژوند کې مایعات په لیتر باندې اندازه کیږي.



پوښتنې:

۱. څوك پوهیږي چې تېل په څه شي اندازه کیږي؟
۲. شیدې د څه شي په واسطه اندازه کیږي؟
۳. اوبه د څه شي په واسطه اندازه کوي.



ګرانو زده‌کوونکو! که چیرې ځیر شوي یاست د تیلو په ګیلنو، په مایع دواګانو د اوبو په بوشکو او په مایع غوړیو باندې د لیتر کلمه لیکل شوې وي.

نو باید پوه شئ چې مایعات د لیتر په واسطه اندازه کیږي. که چیرې ۴ معمولي ګیلاس اوبه په یوه لوښي او یا یوه جك کې واچوو نو تقریباً یو لیتر اوبه کیږي.

تاسو کولای شئ چې ددغه ۴ معمولي ګیلاسو اوبو مقدار، د یوه لیتر په توګه ومنئ. دتیلو، شیدو، مایع غوړیو او اوبو په رانیولو او پلورلو کې د لیتر څخه کار واخلئ ډېر تیل پلورونکي سر خلاصی بوتل او یا ګیلن په نښه کوي په پلورلو او رانیولوکې له هغو څخه د مایعاتو د واحد په توګه کار اخلي.



**پوښتنې:**

۱- څو ګیلاسه اوبه یو لیتر کیږي؟

۲- ۲ ګیلاسه اوبه څو لیتره کیږي؟

۳- که چیرې د یوه لیتر تیلو بیه ۲۵ افغانۍ وي د ۵ لیترو تیلو بیه چې یو ګیلن کیږي څو افغانۍ کیږي؟

۴- که چیرې د دوو ګیلاسو شیدو بیه ۲۰ افغانۍ وي یو لیتر څو افغانۍ کیږي؟

۵- د وه لیتره څو ګیلاسه اوبه کیږي؟

۶- د (أ، آر، إس) په پاکټونو باندې لیکل شوي دي چې په یوه لیتر اوبو کې حل او کار ورڅخه واخلئ که چیرې د لیتر اندازه ونه لرئ د ګیلاسونو په واسطه څرنګه لیتر اندازه کوئ؟

۷- د =، < او > نښو څخه په کار اخیستنې د لاندې لوښو ظرفیت پرتله کړئ!


الف


ب


ت


ث

ب ☐ الف      الف ☐ ت      ب ☐ ت      ب ☐ ث

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې د (أ، آر، اس) د پاکټونو د حل کولو له پاره د یوه لیتر اندازه کول د ګیلاسونو په واسطه خپلو کورنیو ته وښیي.

## اته دېرشم لوست: د يوه رقمي عددونو ضرب کول په څو رقمي عددونو کې

هدف: زده کوونکي وکړای شي يو رقمي عددونه په څو رقمي عددونو کې ضرب کړي.

ګرانو زده‌کوونکو! تاسو مخکې ديوه رقمي عددونو ضرب کول په دوه رقمي عددونو کې زده کړي دي.

اوس غواړو چې د ۲۱۴ درې رقمي عددد ٦ په عدد کې ضرب کړو.

**لومړی:** د ٦ عدد د عدد د يويزو په رقم کې چې ۴ دی ضربوو.

(٦ × ۴=۲۴)




د ۲۴ د عدد د يويزو رقم هم چې ۴ دی د ضرب د حاصل د يويزو په مرتبه کې ليکو او د ۲۴ د لسيزو رقم چې ۲ دی د ۲۱۴ د عدد د لسيزو د مرتبې پورته ليکو.

**دويم:** د ٦ عدد د عدد د لسيزو په رقم کې چې (۱) دی ضرب کوواود ۲ رقم سره چې حاصل نيول شوی دی جمع کوو.

(٦ × ۱) +۲=۸

يا ٦ + ۲ = ۸

چې د ۸ عدد حاصل کيږي او د ضرب د حاصل د لسيزو په مرتبه کې يې ليکو.

**دريم:** د ٦ عدد د عدد په سليزوکې چې ۲ دی ضرب کوو ۱۲= (۲ × ٦) کيږي د ۱۲ د عدد د ۲ رقم د ضرب د حاصل د سليزو په مرتبه کې او د (۱) رقم يې د زريزو په مرتبه کې ليکو او د ۱۲۸۴ عدد په لاس راځي.

**کورنۍ دنده**

د ۷۰۲عدد په ۴ کې ضرب او نتيجه يې په لاس راوړئ.

## مشق او تمرین

۱- د ۱۱۲ عدد د ۹ په عدد کې ضرب کړئ!

۲- د ۴۰۸ عدد د ۷ په عدد کې ضرب کړئ!

۳- د ۳۰۰ عدد د ۸ په عدد کې ضرب کړئ!

۴- لاندې پوښتنې حل کړئ!

$$654 \times 7 = \square \qquad 745 \times 6 = \square \qquad 341 \times 5 = \square$$

۵- له لاندې مثال نه په کار اخستنې سره لاندې پوښتنې حل کړئ.

مثال :

(۶ ۵ ۱)

$$3872 \times 8 = 30976$$

$$9604 \times 7 = \square \qquad 6002 \times 8 = \square \qquad 1284 \times 5 = \square$$

٦ - لاندې پوښتنې حل کړئ!

$$732 \times 6 = \square \qquad 514 \times 7 = \square \qquad 1178 \times 5 = \square \qquad 7043 \times 8 = \square$$

## کورنی دنده

لاندې پوښتنې حل کړئ!

$$174 \times 4 = \square \qquad 6002 \times 9 = \square \qquad 9044 \times 8 = \square$$

# نه ديرشم لوست: د دوه رقمي عددونو ضربول په دوه رقمي عددونو کې

هدف: زده کوونکي وکړای شي دوه رقمي عددونه په دوه رقمي عددونو کې ضرب کړي.

**مثال**: غواړو د ۲۳ عدد د ۱٦ په عدد کې ضرب کړو.

**لومړی**:
د ۱٦ د عدد ديويزو مرتبه چې د ٦ عـدد دی د يوه رقمـي او دوه رقمي عـددونو د ضـرب په ډول سـره ضـربوو چـې د ضرب حاصل يې ۱۳۸ کيږي.

```
  ۲۳
× ۱٦
-----
 ۱۳۸
```

**دويم**:
د ۱٦ د عدد لسيز مرتبه چې د ۱ عدد دی د ۲۳ پـه عـدد کـې ضربوو چې په حقيقت کې د ۱۰ ضربول په ۲۳ کې دی چې د ضرب د حاصل د ۳ رقم يې د لـسيزو د مرتبـې لانـدې او د ۲ رقم يې د سليزو د مرتبې لاندې ليکو په پای کې د ۱۳۸،او ۲۳ د جمعـې حـاصل پـه لاس راوړو پـه نتيجـه کـې د ۳٦۸ عـدد حاصل کيږي. چې د ۱ د ۱٦ او ۲۳ عددونو د ضـرب حاصـل دی.

```
   ۲۳
×  ۱٦
------
  ۱۳۸
+ ۲۳
------
  ۳٦۸
```




لاندې پوښتنې حل کړئ!

```
  ۲۵        ۱۹        ۱۵
× ۱۱      × ۱۳      × ۲۱
-----     -----     -----
```

ددي له پاره چې صفر لرونکي عددونه په آسانۍ سره ضرب کړای شـو لانـدې مثال په نظر کې نیسو.

**۴۰ × ۳۰ =?**

**لومړی حالت:**

```
      ۴۰
  ×   ۳۰
  ------
      ۰۰
  + ۱۲۰
  ------
    ۱۲۰۰
```

**دویم حالت:**

۴۰× ۳۰ =?

په دې حالت کې د عددونو صفرونه په نظر کې نه نیسو یوازې د ۳ او ۴ رقمونه یو له بل سره ضربوو یعني (۴ × ۳=۱۲)

بیا د ضرب د دواړو اجزاو د صفرونو په شمېر صفرونه د ضرب د حاصل مخې ته لیکو یعني. **۴۰ × ۳۰=۱۲۰۰**

**کورنی دنده**

لاندې پوښتنې له حل شوي مثال څخه په کار اخستنې سره په خپلو کتابچوکې حل کړئ!

مثال:



مشق او تمرین

۱. د لاندې عددونو د ضرب حاصل په لاس راوړئ!




الف : ٣٠ او ٤٠     ذ : ١٠ او ٢٠٠

ب : ٦١ او ٩٠     ر : ٦٣ او ١٠٠

د : ٦٠ او ٣٠٠     ز : ٧٢ او ٨٠

۲. د ضرب د حاصل په کارولو سره لاندې تش ځايونه د حل شوي مثال په ډول د صفرونو په شمير سره ډک کړئ.

مثال: ٤٢٠٠= [٠] ٦٠×٧

ج: ٤٠٠٠= [ ] ٨ × [ ] ٥     الف: ٤٢٠٠= [ ] ٧٠×٦

د: ٧٣٠٠= ٧٣× [ ] ١     ب: ٦٥٠= [ ] ٦٥×١

هـ: ٢٠٠= [ ] ٤×٥

کورنۍ دنده

څو دوه رقمي عددونه چې د هغو ښي خواته صفر وي وليکئ، بيا يې يو له بله سره ضرب کړئ او د ضرب حاصل يې لاس ته راوړئ.

مشق او تمرین

۱. لاندې پوښتنو ته په شفاهي توګه ځواب ووایاست.

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰×۰=? | ۱×۷=? | ۲×۵=? |
| ۸۰×۰=? | ۱×۲۲=? | ۵۰×۲۰=? |
| ۱۰×۵۰=? | ۳۲×۱=? | ۸۰×۴۰=? |
| ۰×۱=? | ۸۰×۱۰=? | ۷۰×۴۰=? |
| ۱۴۰×۰=? | ۹۰×۲۰=? | ۶۰×۸=? |
| ۲۲×۲۰=? | ۱۱×۱=? | ۴۰×۹۰=? |
| ۳۰×۰=? | | |
| ۲۰×۲۲۰=? | | |

۲. الف: د لاندې شکل له مخې د ضرب یوه پوښتنه ولیکئ او د ضرب عملیه په هغه باندې سرته ورسوئ.




____ × ____ = ____

ب: لاندې پوښتنه ضرب کړئ او په شکل کې وښیاست.

۳ × ۱۰ =?

کورنۍ دنده

۳. لاندې پوښتنې حل کړئ!

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۶۳ | ۹۵ | ۸۰ |
| × ۲۲ | × ۳۵ | × ۲۷ | × ۴۰ |
| □ | □ | □ | □ |

# څلویښتم لوست: د دوه رقمي عددونو ضرب په درې رقمي عددونو کې

هدف: زده کوونکي وکړای شي دوه رقمي عددونه په درې رقمي عددونو کې ضرب کړي.

تاسو په تیرو لوستونو کې دیوه رقمي او دوه رقمي عـددونو ضـرب لـه دوه رقمي عددونو سره زده کړی او د هغه په طریقه باندې پوه شوي یاســت اوس درې رقمي عددونه له دوه رقمي عددونو سره ضربوو.

```
   ٧۶٥
×   ٥٨
------
  ۶١٢٠
+ ٣٨٢٥
------
 ۴۴٣٧٠
```

مثال: غـواړو چـې د ٧٦٥ عــدد د ٥٨ لــه عــدد ســره ضرب کړو.

لومړی د٥٨ د عــدد د یـویزو رقــم یعنــي ٨ د ٧٦٥ پــه عدد کې ضربوو چې د٦١٢٠ عدد په لاس راځي بیا د ٥٨ د عدد، د لسیزو رقــم یعنــي ٥ د ٧٦٥ پــه عــددکې ضربوو. چې د ٣٨٢٥ عدد حاصلیږي. چې ددې عــدد د یویزو رقم د ٦١٢٠ د عدد د لسیزو تر مرتبې لاندې لیکو په پای کې دواړه لاس ته راغلـي عددونـه یولـه بله سره جمع کوو چې د ۴۴٣٧٠ عدد لاس ته راځي.



فعالیت:

لاندې درکړل شوي عددونه یو له بله سره ضرب کړئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٩٠٠ | ٨۴٠ | ٢٠٨ | ١٣٦ | ٦٠١ |
| × ٧١ | × ٦٧ | × ٩٦ | × ٢٧ | × ١۴ |

کورنۍ دنده

| | |
|---|---|
| ٧٢٥ | ٩١٠ |
| × ٢٠ | × ٦٢ |

مشق او تمرین

۱. لاندې درکړل شوي عددونه یو له بل سره ضرب کړئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷٦۴ | ۱۷۳ | ۱۰۱ | ۹۰۰ |
| × ۷۳ | × ٦۴ | × ۷۳ | × ۱۰ |
| | | | |
| ۷۰۴ | ۱۰۲ | ۱۹۸ | ٦۸۷ |
| × ٦۲ | × ۴۴ | × ۸۷ | × ۹۸ |

۲. که چیرې د یوې نکلي چاینکې بیه ۱۵۷ افغانۍ وي د یوه درجن (۱۲ دانو) بیه به څو افغانۍ وي؟

۳. که چیرې د یوه صندوق منهو بیه ۲۱۸ افغانۍ وي د ۹۰ صندوقونو بیه معلومه کړئ؟

۴. شریف د یوې څغاستې په مسابقه کې ٦۰ متره لاره په یوه دقیقه کې وهي معلوم کړئ چې په یوه ساعت کې به څو متره لاره ووهي؟

۵. د یوه قطعې ګوګړو بیه یوه افغانۍ ده.د یوه درجن (۱۲ قطعیو) بیه څو افغانۍ کیږي؟

۶. د یوه کیلو ګرام غوړیو بیه ۴۰ افغانۍ ده د ۱۲ کیلو ګرامو غوړیو بیه څو افغانۍ کیږي؟

۷. یو پلورونکی په یوه ورځ کې ۲۰۰ افغانۍ ګټه لري او په یوه ورځ کې ۱۹۰ افغانۍ خرڅ لري معلوم کړئ چې په یوه میاشت کې څو افغانۍ سپمولای شي؟

## کورنۍ دنده

۱- که چیرې یوه کورنۍ په یوه ورځ کې ۱۰۰ ګرامه بوره مصرف کړي معلوم کړئ چې په یوه میاشت کې به څو ګرامه بوره په مصرف ورسوي؟

۲- یو تن په یوه شپه او ورځ کې ۳۲ رکعته لمونځ کوي په یوه میاشت کې به څو رکعته لمونځ وکړي؟



# لسم فصل

## تقسیم

## یو څلویښتم لوست: د تقسیم عملیه

**هدف:** زده کوونکي د تقسیم په مفهوم باندې پوه شي او وکولی شي د تقسیم د عملیې په واسطه خپلې ورځینی ستونزې حل کړي.

### فعالیت

- دري زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته ودرېږي.
- ښاغلی ښوونکی دې ۱۲ دانې لوبیاوې، وړې ډبرې او یا د محیطی نور مواد په لاس کې ونیسي. په لومړي وار دې هر زده کوونکي ته یوه، یوه دانه لوبیا ورکړي.
- دویم وار دې له پاتې شوې ۹ دانو څخه یوه، یوه دانه هر زده کوونکي ته ورکړي. $۱۲-۳=۹$
- دریم وار دې له ٦ پاتې شوو څخه یوه، یوه دانه هر زده کونکي ته ورکړي. $۹-۳=۶$ $۶-۳=۳$
- څلورم وار دې له ۳ پاتې شوو څخه یوه، یوه دانه هر زده کوونکي ته ورکړي. $۳-۳=۰$

په پای کې:

- هر زده کونکي ته څو دانې لوبیا وې یا نور مواد رسیدلې دي؟
- د تفریق عملیه څو وارې سرته رسول شوې ده؟
- د څو وارې ۳ له ضرب کولو څخه د ۱۲ عدد لاس ته راځي.
- په ټولو حالاتوکې مو ولیدل چې د ۱۲ له عدد څخه ۳ څلور وارې تفریق شوی او یا ۳ څلور وارې د ۱۲ په عدد کې شامل دی د تفریق دا تکراري عملیه د تقسیم په توګه داسې لیکو:

$$۱۲ \div ۳ = ۴$$

د تقسیم حاصل ← ۴؛ مقسوم ← ۱۲؛ مقسوم علیه ← ۳

باید پوه شو چې د ۱۲ عدد دمقسوم، د ۳ عدد مقسوم علیه او د ۴ عدد د تقسیم د حاصل یا خارج قسمت په نامه یادیږي.




۱. د درکړل شوي شکل له مخې د ویش ځواب ولیکئ.



۱۲÷۴=◯

۲. په خپلو کتابچو کې په تشو ځایونو کې مناسب عدد ونه ولیکـئ او په هغه کې مقسوم، مقسوم علیه او خارج قسمت وښیاست.




۳. دپورته شکل له حل شوي پوښتنې څخه په کار اخیستنې سره لاندې تش ځایونه په مناسبو عددونو سره په خپلو کتابچو کې ډك کړئ.



## مشق او تمرین

۱. د تقسیم د حاصل یا (خارج قسمت) د پیدا کولو له پاره د حل شوي مثال په ډول د تفریق عملیه سرته ورسوئ او ځواب یې ولیکئ.

مثال:

۱۵÷۵=

۱۵-۵=۱۰ ⟵ ۱۰-۵=۵ ⟵ ۵-۵=۰

۱۵÷۵=۳

۲۴÷۸=?

___ ⟵ ___ ⟵ ___

۲. د عددونو د خط په مرسته دحل شوي مثال پـه ډول د تفریـق عملیې سرته ورسوئ.










## کورنی دنده

د عددونود خط په مخ باندي د ?=۴÷۱٦ افادي د تقسیم حاصل په لاس راوړئ.

# دوه څلویښتم لوست: د دوه رقمي عددونو تقسیم په یوه رقمي عددونو باندې

هدف : زده کوونکي وکړای شي دوه رقمي عددونه په یوه عدد باندې تقسیم کړي.




لومړی مثال: غواړو د ۹۸ عدد په ۷ باندې وویشو لیدل کیږي چې د مقسوم د کیڼې خوا رقم یعنې ۹ د مقسوم علیه یعنې د ۷ څخه لوی دی او په هغه باندې ویشل کیږي. چې خارج قسمت یې (۱) دی، هغه په ۷ کې ضربوو او د ضرب حاصل یې تر ۹ لاندې لیکو او تفریق کوو یې چې د تفریق حاصل یې ۲ کیږي. بیا ۸ را کښته کوواو د تفریق د حاصل ښي خواته یې لیکو چې د ۲۸ عدد لاس ته راځي اوس د ۲۸ عدد په ۷ باندې ویشو د زباني ضرب څخه په کار اخیستنې سره پوهیږو چې ۲۸ = ۷ × ۴ کیږي.




د ۴ عددپه خارج قسمت کې لیکو او په ۷ کې یې ضربوو دا د ضرب حاصل د ۲۸ لاندې لیکو او تفریقوو. په نتیجه کې لیدل کیږي چې د تفریق حاصل یې صفر(پاتې) او خارج قسمت یې د ۱۴ عدد په لاس راځي.

**دوهم مثال**: د ۴۸ عدد په ٦ باندي ويشو. که چيرې د تقسيم د حاصل د پيدا کولو له پاره زباني ضرب ته پاملرنه وکړو ليدل کيږي چې. ۴۸ = ٦ × ۸

نو ليکلی شو چې: ۸ = ٦ ÷ ۴۸

او يا




**دريم مثال**: د لاندې پوښتنو د حل طريقې ته پاملرنه وکړئ.







**کورنۍ دنده**

**لاندې پوښتنې په خپلو کتابچو کې حل کړئ.**

۷۲ | ۹

۶۳ | ۸

۹۴ | ٦

**مشق او تمرین**

۱- د لاندې عملیو خارج قسمت پیداکړئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷ \| ۲۲ | ۷ \| ۲۸ | ۸ \| ۳٦ | ۷ \| ۴۹ |
| ۸ \| ٦۷ | ۴ \| ۳۴ | ۸ \| ۳۲ | ٦ \| ۴٦ |

۲- د تقسیم عمیلې، د زباني ضرب په کار ولو سره هغه لوی عدد پیدا کړئ او په تشو ځایونوکې ولیکئ. په داسې حال کې چې د ضرب حاصل یې له مقسوم علیه سره مساوي او یا کوچنی له مقسوم څخه وي چې په دې صورت کې باید پاتې شوی له مقسوم علیه څخه کوچنی وي مثال:




دپورته مثال په توګه لاندې پوښتنې حل کړئ.












۱- عبدالله غواړي چې ۸۸ دانې نيالګي په ۹ پټيو کې په مساوي توګه کېښينوي، معلوم کړئ چې څو نهاله زيات پاتې کيږي.

۲- که چيرې په يوه موټر کې ۹ تنه ځای شي نو د ۷۲ تنو له پاره څو موټرو ته اړتيا ده؟

۳- که چيرې په يوه غوري کې ۲ تنه ډوډی و خوري معلوم کړئ چې د ٦۸ تنو له پاره څو غوريا نو ته اړتيا ده؟

۴- که چيرې يو زده کوونکی ٦ ټوکو کتابچو ته اړتيا ولري ۵٦ ټوکه کتابچې څو زده‌کوونکو ته رسيږي او څو کتابچې پاتې کيږي؟

۵- که چيرې يوې کورنۍ په يوه اونۍ کې ۸٦ کيلو واټ برق مصرف کړی وي، معلوم کړئ چې په يوه ورځ کې يې څو کيلو واټ برق مصرف کړی دی؟

۶- که چيرې يوتن په يوه ورځ کې ۸ ګرامه بوره مصرف کړي نو ۹٦ ګرامه بوره د هغه د څو ورځو له پاره بس کوي؟

۷- ٦۳ تنه په ۹ موټرو کې ځي، که چيرې په هر موټرکې د سرېو شمير سره مساوي وي معلوم کړئ چې په هر موټرکې څوتنه ناست دي؟

کورنۍ دنده

کورنۍ دنده: لاندې پوښتنې حل کړی

| ۵ | ۵۵ | ۴ | ۹۴ | ۲ | ۴۲ |
|---|---|---|---|---|---|

**هدف:** زده کوونکي وکړای شي درې رقمی عددونه په يوه رقمې عدد باندې تقسيم کړي.

لومړی مثال: د ٦٩٣ عدد د ٣ په عدد باندې ويشو.
حل: لومړی د مقسوم د سليزو مرتبه يعنې ٦ د ٣ په عدد باندې ويشو چې خارج قسمت يې ٢ دی . په خارج قسمت کې ليکو بيا ٢ په ٣ کې ضربوو او د ضرب حاصل د ٦ لاندې ليکو او تفريق کوو يې چې د تفريق حاصل يې صفر کيږي.
په همدې ډول د لسيزو او يويزو مرتبو رقمونه را کښته کوو او د ويش عمليه سرته رسوو. په پای کې ليدل کيږي چې پاتې يې صفر دی.




دوهم مثال: د ١٣٦ عدد ، د ٥ په عدد باندې ويشو. ليدل کيږي چې دسليزو رقم له مقسوم عليه څخه کوچنی دی نو د لسيزو رقم دسليزو له رقم سره چې ١٣ کيږي. په ٥ باندې ويشو. په دې صورت کې د ويش حاصل يې ٢ دي . ٢ په ٥ کې ضربوو. د ضرب حاصل له ١٣ څخه تفريقوو چې د تفريق حاصل يې ٣ کيږي اوس د مقسوم ديويز رقم يعنې ٦ را کښته کوو د٣٦عدد حاصل کيږي. هغه په ٥ باندې وېشو چې د وېش، حاصل يې ٧ کيږي. د ٧ عدد په ٥ کې ضربوو او د ضرب حاصل يې له ٣٦ څخه تفريقوو په پای کې ليدل کيږي چې د (١) عدد پاتې شوی او له مقسوم عليه څخه کوچنی دی.



د لاندې پوښتنو حل په نظر کې ونیسئ:



















هر یو زده کوونکی دې د تقسیم یوه پوښتنه په خپله کتابچه کې ولیکي او حل دې کړي.



**پوښتني:**

١- په لاندې پوښتنو کې د تقسیم عملیې سرته ورسوئ؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| ١٧٠ ⟌ ٩ | ٦٦ ⟌ ٧ | ٤١ ⟌ ٦ | ٨٦٧ ⟌ ٥ |
| ٢٨٥ ⟌ ٣ | ١٦٨ ⟌ ٨ | ٣٧٥ ⟌ ١ | ٤٢٠ ⟌ ١ |
| ٤٩٨ ⟌ ٨ | ١٠٠ ⟌ ٧ | ٧٠٩ ⟌ ٧ | ٩٦٠ ⟌ ٦ |

٢- یوه بزگر ٩٨٠ کیلو گرامه غنم حاصل واخیست که چیرې نوموړی بزگر د ورځې ٧ کیلو گرامه غنم مصرف ولري معلوم کړئ چې نوموړي غنم د بزگر د څو ورځو له پاره بس کوي.

٣- یوه بڼوال ٨٠١ کیلو گرامه زردآلو حاصل واخیست. که چیرې وغواړي هغه په ٩ کیلو گرامه صندوقونو کې وویشي. نو څو صندوقونو ته اړتیا پیدا کوي د اړتیا وړ صندوقونو شمېر معلوم کړئ؟

**کورنی دنده**

زده کوونکي دې لاندې پوښتنې حل کړي.

| | | |
|---|---|---|
| ٦٧٣ ⟌ ٢ | ١٠٧ ⟌ ٣ | ٥٠٠ ⟌ ٥ |

## څلور څلويښتم لوست: د ضرب او تقسيم د عمليو ازموينه د يو بل په واسطه

هدف: زده کوونکي وکړای شي د ضرب او تقسيم عمليې د يو بل په واسطه وآزموي.



۱۸÷۶=۳



۱۸÷۳=۶



۶×۳=۱۸

د ضرب او تقسيم د آزمولو د عمليو په کار ولو سره ليکلی شو چې:

| | | |
|---|---|---|
| ۵×٦=۳۰ | ۷×۴=۲۸ | ۱۱×٦+۲=? |
| ۳۰÷٦=۵ | ۲۸÷۴=۷ | ٦٦+۲=٦۸ |
| ۳۰÷۵=٦ | ۲۸÷۷=۴ | |

```
 ٦۸ | ٦
- ٦ |----
    | ۱۱
-----
  ۸
- ٦
-----
  ۲
```

د پورتنيو پوښتنو له حل څخه نتيجه اخستلای شو که چيرې د ضرب حاصل په يوه جز دضرب باندې و ويشو بل جزء د ضرب لاس ته راځي او همدارنګه که چيرې مقسوم عليه په خارج قسمت کې ضرب او له پاتې شوي عدد سره جمع کړو مقسوم لاس ته راځي.

**کورنی دنده**

د ٦ او ۸ د ضرب حاصل په لاس راوړئ اود هغه له پاره د ويش يا تقسيم دوه عمليې وليکئ.

**مشق او تمرین**

۱- مثال ته په پاملرنې سره په تشو ځایونو کې مناسب عددونه ولیکئ.

مثال:

| | |
|---|---|
| ۵۴ ÷ ۶ = [۹] | ۷۲ ÷ ۹ = [ ] |
| [۵۴] ÷ ۹ = ۶ | ۷۲ ÷ ۸ = [ ] |
| ۶ × [۹] = ۵۴ | [ ] × ۸ = ۷۲ |
| ۳۲ ÷ ۴ = [ ] | ۲۱ ÷ ۳ = [ ] |
| [ ] ÷ ۸ = ۴ | [ ] ÷ ۷ = ۳ |
| [ ] × ۸ = ۳۲ | ۳ × [ ] = ۲۱ |

۲- تش ځایونه په مناسبو عدد و نو سره ډک کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۷×۸= [۵۶] | ۹×۸= [۷۲] | ۹×۷= [۶۳] |
| ۵۶÷۸= [ ] | ۷۲÷۸= [ ] | ۶۳÷۷= [ ] |
| ۵۶÷۷= [ ] | ۷۲÷۹= [ ] | ۶۳÷۹= [ ] |

۳- په لاندې پوښتنه کې د مقسوم ، مقسوم علیه او خارج قسمت ترمنځ اړیکې په غور سره وګورئ او تش ځایونه ډک کړې.




د مقسوم ویشل په مقسوم علیه باندې د خارج قسمت د پیدا کولو څخه عبارت دي که چیرې خارج قسمت په مقسوم علیه کې ضرب کړو مقسوم په لاس راځي.

۴- لاندې پوښتنې حل او امتحان کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۹۷۰ \| ۸ | ۶۴۰ \| ۵ | ۹۷۲ \| ۸ |
| ۱۰۰ \| ۹ | ۱۰۵ \| ۸ | ۷۰۶ \| ۶ |

۵- د ۵ مترو ټوکر بیه ۷۵ افغانۍ ده د یوه متر ټوکر بیه معلومه کړئ.

۶- که چیرې یو کارګر په میاشت کې ۲۱۰ متره ټوکر و اوبي معلوم کړئ چې نوموړی کارګر په ۹ ورځو کې څومتره ټوکر اوبدلای شي؟

۷- که چیرې یو مامور په یوه اونۍ کې ۵٦۰ افغانۍ تنخا (معاش) واخلي معلوم کړئ چې په یوه ورځ کې څو افغانۍ تنخا لري.

**کورنی دنده**

لاندې پوښتنې حل کړئ.

| | |
|---|---|
| ٦۰۹ \| ۸ | ٦۱۱ \| ۸ |

# یوولسم فصل
# کسر

## پنځه څلویښتم لوست:

هدف: زده کوونکی $\frac{۱}{۲}$ د یوه شی د نیمايي په توګه وپیژني او $\frac{۱}{۳}$ د یوه شی د دریمي برخي په توګه وپیژني او $\frac{۲}{۳}$ د یوه شی دوه دریم برخي په توګه وپیژني.

**پاملرنه وکړئ:**

**که مونږ یوه مڼه په دوو مساوي برخو وویشو په حقیقت کې مومڼه نیمايي کړې ده چې په رياضي کې داسې لیکل کیږي: $\frac{۱}{۲}$**

**که مونږ یوه مڼه په دري مساوي برخو وویشو اوله هغه څخه یوه برخه واخلو دا یو دریمه برخه داسې ښودل کیږي. $\frac{۱}{۳}$**









**که چیري اوس د مڼي له دریو برخو څخه یوه برخه په یوه غاب کې او دوه برخې یې په بل غاب کې کښیږدو داسې لیکو:**

**الف: $\frac{۱}{۳}$ برخه په یوه غاب کې**


$\frac{۱}{۳}$

**ب: $\frac{۲}{۳}$ برخي په بل غاب کې**


$\frac{۲}{۳}$

د لاندې شکلونو اړوند کسرونو ته پاملرنه وکړئ.




د الف په شکل کې د $\frac{١}{٢}$ کسر ښيي چې د دوو برخو څخه يوه برخه يې جلا شوې ده.

د (ب) په شکل کې د $\frac{١}{٣}$ کسر ښيي چې له دريو برخو څخه يوه برخه يې جلا شوې ده.

د (ج) په شکل کې د $\frac{١}{٤}$ کسر ښيي چې له څلورو برخو څخه يې يوه برخه جلا شوې ده.

د (د) په شکل کې د $\frac{١}{٦}$ کسر ښيي چې له شپږو برخو څخه يوه برخه جلا شوې ده.

د دې دپاره چې تاسو د يوه کسر د ليکلو سره ښه پيژند ګلوي پيدا کړئ لاندې کسر ته پاملرنه وکړئ.



**مشق او تمرین**

۱- د لاندې شکلونو د تورو شوو، او سپینو برخو، کسري برخې په خپلو کتابچو کې وښایاست او وې لیکئ.





توره ___ سپینه ___      سپینه ___ توره ___

۲- لاندې جدول بشپړ کړئ.

| مخرج | صورت | کسر |
| --- | --- | --- |
| ۲ | ۱ | $\frac{۱}{۲}$ |
| | | $\frac{۲}{۳}$ |
| | | $\frac{۳}{۵}$ |
| | | $\frac{۴}{۵}$ |
| | | $\frac{۵}{۶}$ |

**کورنی دنده**

د $\frac{۲}{۵}$، $\frac{۴}{۵}$، $\frac{۲}{۳}$ په کسرونو کې صورت او مخرج ولیکئ.

۳- له لاندې جدول څخه کسرونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| صورت | ۳ | ۴ | ۵ | ٦ | ۲ | ۱ |
| مخرج | ۴ | ۷ | ۸ | ۷ | ۵ | ٦ |
| اړوند کسر | $\frac{۳}{۴}$ | | | | | |

۴- کوم شکل په دوو مساوي برخو ویشل شوی دی د هغه اړوند کسر په خپلو کتابچو کې ولیکئ.




۵- کوم شکل په درې مساوي برخو ویشل شوی دی د هغه اړوند کسر په خپلو کتابچو کې ولیکئ.




**کورنۍ دنده**

د $\frac{۱}{۳}$ ، $\frac{۲}{۳}$ ، $\frac{۱}{۴}$ کسر د شکلو نو په واسطه په خپلو کتابچو کې وښیاست.

۶- په لاندې شکلونو کې کوم يوه ته $\frac{۱}{۴}$ کسر ليکلی شو. د هغه کسر وليکئ!




۷- په لاندې شکلونو کې د رنګ شوي برخو او سپينو برخو کسرونه، د نمونې په ډول په تشه ځايونو کې وليکئ.



| | |
|---|---|
| مساوي برخې | |
| رنګ شوی برخې | |
| سپينې برخې | |



| | |
|---|---|
| مساوي برخې | |
| رنګ شوي | |
| رنګ نه دي شوي | |



| | |
|---|---|
| مساوي برخې | څلور |
| رنګ شوی | $\frac{۳}{۴}$ |
| سپينه | $\frac{۱}{۴}$ |

۸- لاندې شکلونو ته پاملرنه وکړئ. سپينو او رنګه شوو هر يوه برخه په کسر سره وليکئ.

الف



| | |
|---|---|
| مساوي برخې | |
| رنګ شوی برخې | |
| سپينې برخې | |

ب



| | |
|---|---|
| مساوي برخې | |
| رنګ شوی برخې | |
| سپينې برخې | |

ج



| | |
|---|---|
| مساوي برخې | |
| رنګ شوی برخې | |
| سپينې برخې | |

۹- لاندې هر یو شکل په خپلو کتابچو کې رسم کړئ د هر شکل د اړوند کسر په نظر کې نیولو سره د هغه برخې په خپلو کتابچو کې تورې کړئ!



$\frac{1}{2}$ ، $\frac{2}{4}$ ، $\frac{3}{8}$ ، $\frac{5}{8}$

$\frac{3}{9}$ ، $\frac{2}{3}$ ، $\frac{3}{4}$

۱۰- د حل شوې مثال په ډول د لاندې شکلونو د رنګ شوو برخو کسر کینې خواته او د سپینو برخو کسر ښې خواته ولیکئ.



| | |
|---|---|
| $\frac{8}{9}$ | $\frac{1}{9}$ |
| ــــ | ــــ |
| ــــ | ــــ |
| ــــ | ــــ |
| ــــ | ــــ |
| ــــ | ــــ |
| ــــ | ــــ |
| ــــ | ــــ |
| ــــ | ــــ |

۱۱- د لاندي شکلونو د رنګ شوو برخو او سپینو برخو اړوند کسرونه په غور سره وګورئ. د اړوند شکل په کارولو سره، لوی کسر او کوچنی کسر په شفاهي توګه وښیاست.

| | | |
|---|---|---|
| $\frac{۱}{۲}$ |  | $\frac{۱}{۲}$ |
| $\frac{۲}{۳}$ | | $\frac{۱}{۳}$ |
| $\frac{۳}{۴}$ | | $\frac{۱}{۴}$ |
| $\frac{۴}{۵}$ | | $\frac{۱}{۵}$ |
| $\frac{۵}{۶}$ | | $\frac{۱}{۶}$ |
| $\frac{۶}{۷}$ | | $\frac{۱}{۷}$ |
| $\frac{۷}{۸}$ | | $\frac{۱}{۸}$ |
| $\frac{۸}{۹}$ | | $\frac{۱}{۹}$ |

**کورنی دنده**

د $\frac{۲}{۳}$، $\frac{۲}{۵}$، $\frac{۲}{۷}$، $\frac{۲}{۸}$ او $\frac{۲}{۹}$ کسرونه د شکل په رنګ کولو سره وښیاست.

۱۲- د $\frac{۳}{۵}$ ، $\frac{۳}{۷}$ ، $\frac{۳}{۸}$ او $\frac{۳}{۹}$ کسرونه د شکل د رنګ کولو په واسطه وښیاست.

۱۳- د $\frac{۴}{۵}$ ، $\frac{۴}{۶}$ ، $\frac{۴}{۷}$ ، $\frac{۴}{۸}$ او $\frac{۴}{۹}$ کسرونه په شکل کې وښیاست.

۱۴- د $\frac{۵}{۶}$ $\frac{۵}{۷}$ $\frac{۵}{۸}$ او $\frac{۵}{۹}$ کسرونه د شکل د رنګ کولو په واسطه وښیاست. رنګ شوي او سپینې برخې سره پرتله کړئ

د <،> او = نښو په واسطه يې وښياست.

۱۵- د لاندې شکلونو د رنګ شوو برخو کسر ښئ خواته او د سپينو برخو اړوند کسر کينې خواته وليکئ.



۱۶- د لاندې شکلونو د رنګ شوي برخو کسر ښئ خواته او د سپينو برخو کسر کينې خواته وليکئ او يو له بله سره يې پرتله کړئ .






د لاندې شکل د رنګ شوو برخو کسر کينې خواته او د سپينو برخو کسر ښی خواته وليکی او پرتله يې کړی.



**پوښتنې:**

۱- احمد د یوه مستطیل کاغذ څخه $\frac{۱}{۳}$ برخه پرېکړه، تاسو هم دا کار په عملي توګه سرته ورسوي او ووایاست چې څومره برخه یې پاتې ده په کسر سره یې وښیاست.

۲- کریم یوه دایره په درې مساوي برخو ووېشله او د هغې $\frac{۲}{۳}$ برخې یې تورې کړې څومره برخه یې سپینه پاتې ده؟ د رسم په واسطه یې وښیاست.

۳- د لاندې شکلونو د رنګ شوو او سپینو برخو کسر په خپلو کتابچو کې ولیکئ!



۴- یو لیتر اوبه څو ګیلاسه کېږي؟

۵- یوه دایره رسم کړئ $\frac{۱}{۴}$ برخه یې توره کړئ.

۶- له یوه ګیلن اوبو څخه یو لیتر اوبه څرنګه جلاء کوئ؟

۷- د <، > او = نښو په کارولو سره لاندې درکړل شوي وزنونه سره پرتله کړئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| الف: | ۵۰۰ ګرامه | | ۲ کیلو ګرامه |
| ب: | ۳ کیلو ګرامه | | ۳۰۰ ګرامه |
| ج: | ۷۵۰ ګرامه | | نیم کیلو ګرامه |
| د: | ۲۵۰ ګرامه | | ۷۵ ګرامه+ ۱۰۰ ګرامه + ۲۵ ګرامه |

**کورنۍ دنده**

یو مستطیل رسم کړئ چې اوږدوالی یې ۶ سانتي متره او سور یې ۳ سانتي متره وي بیا د هغې $\frac{۱}{۲}$ برخه توره کړئ.

۸- یوه آشپز ۷۵۰ ګرامه وریجې درلودلې چې ۴۵۰ ګرامه یې له هغو
څخه پخې کړي معلوم کړئ چې څو ګرامه وریجې پاتې دي.

۹- یوه ډوډۍ پخوونکی یو کیلو ګرام خمیره درلودله چې له ۳ ورځو
څخه وروسته ۲۵۰ ګرامه خمیره ورسره پاتې وه معلوم کړئ چې
په دریو ورځو کې یې څومره خمیره مصرف کړي ده؟

۱۰- یوي مور ۵ کیلو ګرامه وریجې، ۵۰۰ ګرامه بوره، ۲۵۰ ګرامه غوړي
او ۲۵۰ ګرامه لوبیا راونیول. د ټولو شیانو وزن معلوم کړئ.

۱۱- لاندې شیان د څه شي په واسطه اندازه کیږي ځوابونه په
خپلو کتابچو کې ولیکئ؟

الف: نفت ☐

ب: د وره لوړوالی ☐

ج: اوبه ☐

د: بوره ☐

که چیرې یو لوښی د ۱۲ معمولي ګیلاسونو او بوځای ولري. معلوم
کړئ چې په نوموړي لوښي کې څولیتره اوبه ځائیږي؟

۱۲- د لوست توکي او لوازم چې لاندې اندازې ولري وښیاست.

الف: له ۹ سانتیمترو څخه لږ وي.

ب: د یوه متر په حدود کې وي.

ج: د ۱۰ او ۲۰ سانتي مترو په منځ کې وي.

۱۳- د ۳ سانتي مترو، ۷ سانتي مترو او ۱۲ سانتي مترو په اندازه خطونه
رسم کړئ.

۱۴- د هر غوري خوړو له پاره ۳ منو لرونکي یو قاب ته اړتیا ده. که چیرې
۲۱۰ داني منې ولرو څو دانو غوریو او څو دانو قابونو ته اړتیا ده؟

۱۵- د ٦ دانو قلمونو بیه ٦٦ افغانۍ ده د ۷ دانو قلمونو بیه معلومه کړئ؟

۱۶- زرغونه اوس ۱۲ کلنه ده له ۳ کلو وروسته د هغې عمر معلوم کړئ.

۱۷- که چیرې احمد د ورځې ۹ افغانۍ سپما وکړي. د هغه د یوې میاشتې
او یوه کال د سپما اندازه معلومه کړئ؟